﴿وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾

[الرعد: ٤١]

د جمهوري ملايانو د شبهاتو رد

از: شیخ خالد حقاني شهيد رحمه اللّٰه

د جمهوريت موضوع [اومه حصه]

په اسلامی ملکونو کې بعضې اسلام ته منسوب اسلامی تنظیمونو واله چه په اصل کې د مغربي سیاست او فلسفې نه متأثره دي دوی د اسلامی نظام د راوستلو دپاره ترتیب او طریقه د رسول الله ﷺ د سیرت نه نهٔ اخلی ځکه یو خو پدیکې جهاد او بدنی قربانی ده او دوی دیته تیار ندي ، بلکه غواړی چه مغربي لاره باندې اسلام راولی او ددې هدف دپاره ده نورو سیکولر او د بې دینه خلقو پشان جمهوری وسائل او جمهوری لاره اختیار کړی او انتخاباتو ته ودریږی او د دین په نوم باندې خلقو نه ووټ اخلی نو دوی ددې دپاره یو څو بې بنیاده دلائل او شبهات پیش کوی نو پدې موضوع کې د دوی دغه غلطې شبهې او د هغې جوابونه ذکر کوو ، د الله رب العالمین په توفیق سره .

اولنۍ شبه : دوی د یوسف علیه السلام په باره کې وړاندې کوي ؟

چه یوسف علیه السلام په داسې حال کې چه د الله پیغمبر وو د مصر د کافر بادشاه سره ئې د هغه په حکومت کې د وزیر په حیثیت کار کړے دے ، نو ددې وجه نه اوس هم مسلمانان کولے شی چه په یو کافر نظام کې کار وکړی ؟

جواب : اول خو دوی په یوسف علیه السلام باندې تهمت لګوی چه نعوذ بالله یوسف علیه السلام په کفری حکومت کې کار کړے دے یا د کفری حکومت حصه پاتې شویده، نو ګوره دا قسمه خبرے خو په خپله یو قسم کفر دے او بیا په یو پیغمبر باندې دومره جرأت دوی کوی نو پدې خو اجماع ده چه پیغمبران ټول معصوم دي او تهٔ په پیغمبر باندې تهمت لګوے نو تا خو د اجماع نه هم خلاف وکړو او بیا خصوصاً هغه اجماع چه په هغه کې نص راغلے وی لکه حدیث کې راځی چه نبی کریم ﷺ فرمائی : چه مونږه معشره د انبیاء علیهم السلام هغه ټول معصوم دي .

خو بیا هم مونږ د دوی دا شبه د یو څو وجوهاتو نه باطله کوو :

۱/ وجه : دا اوسنی پارلمانونه شرکی او طاغوتی پارلمانونه دي ، دلیل ئې دا دے : چه پارلمان

ته د تشريع تحليل او تحريم حق ورکړے شويدے په داسې حال کې چه تشريع تحليل تحريم صرف او صرف د الله تعالىٰ حق دے ، خو په ډيموکراسئ کې دغه حق په ولس (عوامو) پورے متعلق دے چه پارلمان ئې نمائندګی کونکے دے .

په اسلام کې د اعلىٰ حاکيمت او تشريع حق هيڅ شريک نهٔ منی خو په ډيموکراسئ کې نه يواځې دا چه حلال او حرام ګرځول د قوم د اکثريت حق دے ، بلکه په قطعی طريقې ئې الله تعالىٰ د دغه حق نه د دوی په ګمان محروم کړے دے ، او په دواړو کې د تشريع مصادر ښکاره ښکاره دي ، په اسلام کې د تشريع مصدر وحی الٰهی او رسول دے ، خو په ډيموکراسئ کې د تشريع مصدر د خلقو خواهشات او هواس دي ، او الله تعالىٰ ته صرف دين اسلام قبول دے لکه الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾ ﴾[1]

ترجمه: " او هر څوک چه بې د اسلام نه بل دين غوره کړی هيڅ کله به ترې ونهٔ منل شی ، او هغه به په آخرت کې د تاوانيانو نه وی " .

نو آيا څوک داسې تصور کولے شی چه يوسف عليه السلام به بې د اسلام نه بل دين منلے وی ؟ او يا به ئې د هغې قانون د احترام او پاسدارئ حلف (قسم) پورته کړے وی ، لکه څنګه چه د اوسنئ زمانې د پارلمانونو حال دے ؟ يوسف عليه السلام خو د قيد (بندی توب) او د بې وسئ په وقت کې چه هيڅ واک او اختيار ئې نهٔ وو او بيا ئې هم د شرک او مشرکينو نه د بې زارئ اعلان کړے وو ، لکه چه قرآن کې الله تعالىٰ فرمائی :

﴿ إِنِّى تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱتَّبَعْتُ مِلَّةَ ءَابَآءِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشْرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَىْءٍ ﴾[2]

---

1) [سورة آل عمران : ٨٥] .

2) [سورة يوسف : ٣٧ ـ ٣٨] .

ترجمه : " بيشكه ما پرېښودې دې دين د هغو خلقو چه ايمان نۀ راوړي په الله تعالیٰ باندې او حال دا چه دوی د آخرت نه هم انکاريان دي * او تابعداری مې کړېده د دين د خپلو پلارانو چه ابراهيم ، اسحاق او يعقوب (عليهم السلام) دي ندی مناسب مونږ سره چه برخدار ونيسو په الله پورې څه شی ".

روسته يوسف عليه السلام د شرک او د توحيد د حقيقت بيان کوی او دا اعلان کوی چه حکم به يوائې د الله تعالیٰ چليږی او عبادت به هم يوائې د الله تعالیٰ کيږی ، لکه چه قرآن کريم کې الله سبحانه وتعالیٰ فرمائی :

﴿ يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ۝٣٩ مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ۝٤٠ ﴾ [1]

ترجمه : " اې زما د جيل ملګرو ! آيا متفرق خدايان غوره دي او که هغه الله چه يو دې؟ ډير قوی غالب دې * عبادت نه کوئ تاسو غير د الله تعالیٰ نه مګر د څو نومونو چه نومونه مو اېښی دي د هغو تاسو او ستاسو پلارانو ، نۀ دې راليږلې الله تعالیٰ په عبادت د هغوی باندې څه دليل او سند ، نۀ دې حکومت د هيچا مګر خاص د الله تعالیٰ دې ، امر ئې کړې دې پدې چه عبادت مۀ کوئ تاسو مګر يوائې د هغه ، دغه مضبوط دين دې خو زيات خلق نۀ پوهيږی ".

نو آيا دا کيدې شي چه يوسف عليه السلام دې د بند او ضعف په وخت کې شرک په اوچت آواز رد کوی ، او حکومت يوائې د الله تعالیٰ ګڼړی او بيا دې د آزادئ او قوت په وخت کې دغه حقيقت پټوی ، او د بادشاه په دين دې فيصلې کوی ؟ په داسې حال کې چه الله تعالیٰ په زمکه کې تمکين (قدرت) هم ورکړېدې ؟

---

[1] [سورة يوسف : ٣٩ ـ ٤٠].

اوبله خبره چه ډیره مهمه ده او هغه دا ده : چه په پارلمان او وزارت کې فرق شته دے ، پارلمان شریعت او قوانین جوړوی ، او وزارتونه ئې تنفیذوی او عملی کوی یئ ، نو هغه خلق چه په اوسنو پارلمانونو کې د الله تعالیٰ د دین په خلاف قوانین عملی کوی او منظوره وی ئې د هغوی جرم د هغو ډیر دے چه جوړ کړی قوانین عملی کوی ، نو په دې بنیاد د هغو خلقو استدلال چه د یوسف علیه السلام په عمل ئې پارلمان ته ورتللو دپاره کوی صحیح نه دے ، خو دا په دې معنی نۀ ده چه پارلمان ته ورتګ دې ناجائز او وزارت قبلول دې جائز شی .

په اوسنو طاغوتی نظامونو کې چه د الله تعالیٰ د دین سره ئې د جګړے اعلان کړے دے ، د الله د دوستانو سره جنګیږی او د الله د دشمنانو سره دوستئ او اتحادونه کوی ، د وزارت قبلول هم حرام او د یوسف علیه السلام په عمل استدلال کول باطل دي ، ځکه چه په اوسنو حکومتونو کې وزیران هم د دغه بنیادی قانون د احترام حلف (قسم) پورته کوی چه د ډیموکراسئ د کفر په بنیاد جوړ شوے وي ، په داسې حال کې چه الله تعالیٰ په دغه قسم طاغوتی حکم باندې د کافر کیدلو امر کړے دے ، لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦ ﴾[1]

ترجمه : غواړی چه خپله دعوی د فیصلې دپاره طاغوت ته یوسی په داسې حال کې چه دوی ته امر شوے دے چه په هغه طاغوت دې کافر شی .

اوس که څوک دا ګمان کوی چه یوسف علیه السلام به هم په دغه طریقې د طاغوت قانون د منلو او د احترام حَلف (قسم) پورته کړے وی په داسې حال کې چه الله تعالیٰ د هغه د اړخه په قرآن کریم کې بدی ذکر کړے وه ، او هغه ئې د خپلو مخلصینو بندګانو نه ګرځولے وو نو یقینا چه د دغه ګمان کونکې به د الله تعالیٰ په یو پیغمبر د درغو ویونکې ، د ټولو نه بد کافر او د اسلام ملت نه وتلے انسان وي .

۲/ وجه : پۀ اوسنی حکومتونو کې وزیران د وضعی کفری قوانینو منونکې او نافذونکی

---

1) [سورة النساء : ٦٠] .

دي په هر څه کې به د وضعي قوانينو پابند وي ، نو آيا يوسف عليه السلام باندې دا ګمان کيدلے شي چه – معاذ الله – هغه به د دغه قسمه وضعي کفري ظالمو او باطلو قوانينو پابند وو ؟ که څوک د هغه په هکله دغه شان ګمان کوي او بيا د هغه په فعل استدلال کوي نو په يقيني طريقې سره به هغه د الله په يو پيغمبر باندې به د کفري قوانينو د منلو الزام لګوي ، چه دا کار په خپله کفر دے ، لکه څنګه چه د جواب په اول کې اووئيلې شو، او د اسلام د دين نه وتل دي ځکه چه الله تعالیٰ انبياء د دې دپاره په خپلو امتونو ته رالیږلی دي چه هغوی ته د طاغوت د پريښودلو او يواځې د الله د احکامو د منلو تعليم ورکړي ، الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾[1]

ترجمه : يقينا مونږه راليږلے دے په هر امت کې رسول ددې دپاره چه خلقو ته ووائی : د الله تعالیٰ بندګئ اوکړئ ، او د طاغوت نه ځان اوساتئ .

او دغه پيغام د يوسف عليه السلام د رسالت هم وو نو دا څنګه کيدے شي چه يوسف عليه السلام ددې د پيغمبرئ سره سره د طاغوت قانون منلے وی او فيصلے دې ئې د هغې مطابق کړے وی ؟

٣/ وجه : د يوسف عليه السلام وزارت هغه ته د الله تعالیٰ د طرف نه په زمکه کې تمکين (قدرت) وو هغه د الله تعالیٰ د حکم مطابق فيصله کوله ، ځکه هغه ته هيڅا ضرر نشو رسولے ، نهٔ چا لرې کولے شو او نهٔ ئې په فيصله مجبورولے شو او هم دغه د « تمکين فی الأرض» معنی ده .

نو آيا د نن زمانې په طاغوتی حکومتونو کې هم وزيران هم دغه شان مطلق صلاحيتونه (مکمل اختيارات) لري ؟ نو بيا دوی څنګه خپل ځان په يوسف عليه السلام قياس کوی ؟ د نن زمانې وزيران خو په ټوله معنی د طاغوتی قوانينو په بندونو داسې تړل شوی چه د اسلام د ګټې دپاره هيڅ حرکت ترې نه شی کولے ؟

---

[1] [سورة النحل : ٣٦] .

يوسف عليه السلام د خپل کار په کولو کې د هر قسم پابندئ او څارنې نه آزاد وو، ځکه کله چه يوسف عليه السلام بادشاه د جيل نه را وويستو او يوسف عليه السلام هغه ته خپلې خبرے اوکړې نو بادشاه ئې په خبرو دومره قانع شو چه هغه ته ئې ووئيل : ﴿ إِنَّكَ ٱلۡيَوۡمَ لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ﴾[1]

ترجمه : بې شکه ته نن ورځ زمونږ په نيز خاوند د مرتبې او امانتګيرئ يئ .

مفسرين ليکي : چه ددې نه روسته د مصر بادشاه هسې تش په نوم بادشاه وو او نور ټول کارونه يوسف عليه السلام جارى کول او د عزيز په نامه به يادېدو ، بعضې علماؤ لا دا هم وئيلي دى : چه هغه بادشاه يوسف عليه السلام په لاس مسلمان شو او ددې نه روسته د يوسف عليه السلام په دين چليدو .

آيا په اوسنى طاغوتى حکومتونو کې مسلمانانو وزيرانو ته دغه مرتبه حاصله ده ؟ او که چرے جواب په « نا » سره وى نو بيا خو قياس نۀ دے صحيح .

٤/ وجه : الله تعالىٰ د يوسف عليه السلام د قدرت او طاقت په باره کې فرمائى :

﴿ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾[2]

ترجمه : او هم دغه شان مونږه يوسف عليه السلام ته قدرت په زمکه کې ورکړو .

د تمکين لفظ پدې آيت کې مجمل دے خو په بل ځائى کې الله تعالىٰ د دغه اجمال تفصيل داسې بيان کړيدے :

﴿ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ

1) [سورة يوسف : ٥٤] .

2) [سورة يوسف : ٢١] .

وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ۝٤١ ﴾[1]

ترجمه : هغه کسان که چرے ورکړو مونږ دوی ته په زمکه کې تمکين نو قائموی دوی مونځ او ورکوی زکوٰة او امر به کوی خلقو ته په نيکئ او منع کوی به خلق د بدئ نه او خاص د الله په اختيار کې ده آخره خاتمه د ټولو کارونو .

دا چه د يوسف عليه السلام په هکله هم الله تعالیٰ هغه ته د تمکين خبره کړيده ، نو يقينا يوسف عليه السلام هم د هغه خلقو نه وو چه د قدرت (اقتدار) په وخت ئې په خلقو باندې مونځونه قائمول ، او زکاتونه ورکول ، او امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوو ، او په دې سلسله کې د ټولو نه لوئی معروف توحيد او د ټولو نه لوئ منکر شرک دے ، يوسف عليه السلام د خپلو پلارانو د حق دين اتباع کوله او په هغې به ئې فيصله کوله په هغه قانون ئې هيڅ کله فيصله نه کوله چه الله تعالیٰ نه وو نازل کړے ، او نه ئې هم د الله تعالیٰ د قانون خلاف د نورو قوانينو جوړولو اجازه ورکوله ، او که څوک د هغوی (عليه السلام) په هکله ددې په خلاف عقيده اولری هغه مسلمان نشی پاتې کيدے .

د اوسنئ زمانې په طاغوتی حکومتونو کې کا يو وزير يواځې د اسلام دپاره يو ادنی کار هم اوکړی نو فوراً د خپلې عهدې (سيټ) نه برطرف کيږی او يا اساسی قانون او حکومت ته د خيانت په جرم زندان ته ورغوځول کيږی ، او که چرې ټول حکومت او وزيرانو نه د انتخاباتو د لارې هم د مسلمانانو لاس ته ورشی بيا هم ورته د حکومت کولو فرصت نه ورکول کيږی، لکه چه د اسلامی نړئ په بعضی دولتونو کې اوليدل شول نو په هم دې اساس د يوسف عليه السلام په کار استدلال کول يواځې يوه بهانه ده بس .

نو دا ئې صفت دے او د هغې نه بعد چه هم يو سړے دا خبره کوی او دومره لوئی جرئت کوی نو بس دغه انسان دې الله جل جلاله پوهه کړی.

۲/ شبهه : د دوی پدې شبهو باندې چه د پارلمان ته د جواز دپاره ئې پيش کوی هغه د

---

1) [سورة الحج : ٤١].

نجاشي بادشاه چه دهٔ اسلام قبول کړے دے ، نجاشي بادشاه چه ددې خپل نوم اصحمه وو او د حبشو يو نصراني بادشاه وو کله چه مسلمانان په مکه معظمه کې تنګ راغلل د کافرانو د ظلمونو نه نو پيغمبر عليه السلام بذات خود په مکه معظمه کې پاتې شو او صحابه کرامو ته ئې امر اوکړو چه تاسو حبشې ته هجرت اوکړئ ، نو کله چه دوئ حبشې ته هجرت اوکړلو نو دلته اهل مکه ؤ ته پته اولګيدله نو دوی ورپسې لاړل حبشې ته ، چه کله دوی ورپسې حبشې ته ورسيدل نو بادشاه ته ئې شکايت اوکړو چه دا بې دينه شويدی او ستاسو ملک ته راغلی دی او تا ورته پناه ورکړيده نو دا راپريږده او مکې ته ئې واپس راوشړه ، نو نجاشي بادشاه صحابه کرام راطلب کړل چه تاسو راشئ او خپل موقف پيش کړئ چه دلته تاسو څرنګه راغلی يئ ؟ او بيا ترينه پوښتنه اوکړه نو هغوئ ورته په جواب کې اووئيل : چه مونږه داسې جاهله خلق وو چه قتلونه به مو کول او وينې به مو توئی کولے نو په مونږ کې الله پاک يو پيغمبر راوليږلو او هغه مونږ ته په سهر مونځ کې قرآن وائی بهر حال چه څومره خبره وه نو هغه ئی ورته اوکړله ، بيا ورته نجاشي بادشاه اووئيل : چه تاسو د عيسیٰ عليه السلام په باره کې څهٔ وائی ؟ نو حضرت جعفر طيار رضي الله عنه پاڅيدلو او د سورة مريم اولنی آياتو نه ئی ورته اولستلو ، نو پديکې ورته دا خبره ښکاره کړله چه عيسیٰ عليه السلام ابن مريم دے ابن الله ندے او مريم يوه پاکدامنه ښځه وه چه قرآن کريم د هغې څومره صفائی ذکر کړيده او په څنګه طريقې سره د عيسیٰ عليه السلام ولادت اوشو ، نو نجاشي بادشاه ورته اووئيل : چه په انجيل کې هم داسې صفات د عيسیٰ عليه السلام راغلی دی نو د مکې مشرکان ئی راوشړل نو د هغې نه بعد بيا دا نجاشي بادشاه مسلمان شو .

نودوی وائی : چه نجاشي مسلمان شويدے او نجاشي بيا هغه سړے دے چه دا وفات شو نو د وفات نه بعد پدې نجاشي باندې پيغمبر عليه السلام غائبانه جنازه کړيده ، او امام ابو داؤد رحمه الله باب تړی «**باب انه يری النور عند قبر شهيد**» چه د شهيد قبر خواته کله کله نور ليدلے شی نو دا خو کله کله وی نو ددې خو دا مطلب ندے چه تهٔ دې د هغه په قبر باندې مسجد جوړ کړے او بيا په دغه باب کې د حضرت عائشه رضي الله عنها روايت راوړی چه فرمائی :

«كنا نتحدث انه يرى نور عند قبر النجاشي» نو دا يو ډير لوئی بزرگ تير شو او صحابي ځکه ندے چه د پيغمبر عليه السلام سره ملاقات ونهٔ شو ، نو دوی اوس ددې بزرگ د خبرے نه دا دليل اخلي چه دهٔ حکم بغير ما انزل کړيدے ، نو دهٔ اسلام قبول کړو او بيا ئې هم د الله جل جلاله په قانون باندې فيصلې ندی کړی او حالانکه پيغمبر عليه السلام پرې جنازه هم اوکړه او تاسو وائی چه د الله په قانون باندې فيصلې کول دا لازمی خبره ده او حال دا چه نجاشي د الله د قانون نه بغير بل قانون چلولے دے ؟

جواب : اول خو دا خبره ده چه تاسو به ددې خبرے دليل پيش کوئ چه نجاشي په خپل عمر کې حکم بغير ما انزل الله ندے کړے نو د منع دليل تاسو پيش کړئ ؟ نو دوی وائي : چه د منع دليل خو نوی خو عدم ذکر د منع دليل دے ، او مونږ وايو چه عدم ذکر د منع دليل ندے ، ځکه د منع دليل الله پاک غوښتلې دے چه کله شيطان سجده اونهٔ کړه نو الله ورته فرمائی : ﴿ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ﴾[1] نو د منع دليل به پيش کوے ، نو دا هسې خبره ده چه ته وائی چه د منع دليل نشته ، نو بيا د دوی سره دليل نشته .

دويمه خبره : نجاشي حکم بما انزل الله نوی کړے نو هغهٔ ته خو احکامات ندی رسيدلی ځکه چه نجاشي ته د احکاماتو د نهٔ رسيدلو دليل دا دے : چه د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دے هغه فرمائی : چه کله مونږه د پيغمبر عليه السلام سره مخکې وو نو چه چا به په مونځ کې سلام واچولو نو مونږه به جواب ورکړو د سلام ، او کله چه نجاشي خواته لاړو او چه کله واپس د نبی کريم صلی الله عليه وسلم خواته راغلو نو پيغمبر عليه السلام مونځ کولو نو مونږ پرې سلام واچولو نو پيغمبر عليه السلام جواب رانهٔ کړو او بيا ئی راته روستو وفرمائيل : انها شغل ، چه دا شغل دے او په مونځ کې به شغل نهٔ کوے ، نو دلته اوګوره : چه عبدالله بن مسعود او نور صحابه رضي الله عنهم چه هغوي د احاديثو د ډيرے حيصې نه خبر دی نو هغوئ چه د نجاشي په خوا کې وو نو هغوئ ددغه حکم نه خبر نوو

1) [سورة الأعراف : ١٢] .

چه په مونځ کې جواب ورکول منسوخ شوی دي نو اوګوره پدې لکه موده دوی د یو حکم نه خبر نشول نو نجاشی ته به څنګه اورسیږي ، حالانکه حکم کولو دپاره رسیدل شرط دی چه تاته حکم در ورسیږی نو بیا به تهٔ په هغې باندې حکم کوے ، لکه الله فرمائی : ﴿ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ ﴾[1] یعنی چه چاته یو حکم ورسیږي نو هغه به پرې امر کوي ، او تهٔ ګورے نهٔ چه یو سړے شاهق الجبل کې وی او د نورو احکاماتو نه ندے خبر خو په عقل سره خپل خدائی منی چه الله جل جلاله واحد لاشریک دے او پدې هر شی کې دلائل دی : « وفی کل شئ له آیة ... تدل علی انه واحد » نو په خپل عقل سره هم سړے معلومولې شی چه الله واحد لاشریک دے ، او ددې دلیل د یونان فلاسفه دی چه د یونان فلاسفه خو ټول د الله په وحدانیت باندې قائله دی خو انبیاء علیهم السلام ئی نهٔ منل نو په دغه خبره کې تباه دی ، نو هغوئ هم په خپل عقل سره خدائی معلوم کړے وو نو څوک چه په خپل عقل سره خدائی معلوم کړی او د نورو احکاماتو نه نهٔ وی خبر نو شریعت کې هغه مغفور دے بخلې شویدے ، نو نجاشی بادشاه خو دومره اړخت ته پروت وو چه هغهٔ ته نور احکامات ندی رسیدلی ، او مونږ سره پدې خبره باندې نور دلائل هم شته دے چه نجاشی بادشاه ته نور احکامات ندی رسیدلی لکه دا یو دلیل پیش کړے شو ، او تاسره پدې خبره باندې دلیل نشته دے چه هغهٔ ته نور احکامات رسیدلی دی او هغهٔ پرې حکم نوی کړے .

دریم جواب : چه مونږه وایو : چه په روایاتو کې دا خبره راځی چه نجاشی پیغمبر علیه السلام ته خط رالیږلې وو ، او په خط کې ئی ورته لیکلی وو : چه زهٔ خپل بچې اریحا بن اصحمه بن اشجر دا درلیږم ستا د خدمت دپاره چه ستاسو خدمت اوکړی او دین ایزده کړی ددې دپاره ئی درلیږم ، نو معلومیږی چه هلته کې دین نه وو رسیدلې ، او په بعضی روياتو کې راځي : چه ورسره نور ٦٠ حبش دی هغه ورسره هم درلیږم ، او پدې روایت کې بله خبره دا ده : چه تاریخ لیکلی دی چه پیغمبر علیه السلام ته د نجاشی خط رارسیدلې دے خو جواب ئی

---

[1] [سورة الأنعام : ١٩] .

معلوم ندے چه پيغمبر عليه السلام ورته جواب ورکړيدے او که ندے ورکړے ، نو مونږه ته دومره اندازه لګی چه نجاشی ته احکامات ندی رسيدلی ، او تاسره پدې خبره دليل نشته چه نجاشی ته احکامات رسيدلی دی ، او چه کله احکامات نوی رسيدلی نو په هغه باندې بيا عمل واجب ندے .

څلورم جواب : چه دغه نجاشی ته چه کوم احکامات رسيدلی دی نو نجاشی په هغې باندې عمل کړے دے ، دۀ ته پته اولږيدله چه عيسیٰ عليه السلام ابن الله ندے بلکه پيغمبر دے او ابن مريم دے نو فورا ئی د خپلې عقيدے نه براءت اوکړو او په پيغمبر عليه السلام باندې ئی ايمان راوړو ، نو دلته اوګوره : چه څرنګه هغې ته حکم د توحيد ورسيدلو نو فورا ئی پرې عمل اوکړو .

نو تاسو ته مونږه د توحيد احکامات رارسوو او درته وايو چه دغه پارلمان د شرک اډه ده نو تاسو ته خبر درسيدلے نو ولې پارلمان نۀ پريږدئ حالانکه تاسو ته خو پوره قرآن او حديث در رسيدلې دے ، نو دوی د نجاشی پشان بزرګ انسان باندې دا تهمت ترِی چه هغه هم حکم بغير ما انزل الله کړيدے ، دا عمر اشقر په خپل کتاب " حکم المشارکة فی مجلس الوزاره " کې دا واقعه پوره راوړيده او بيا ددې واقعې نه استدلال کوی حالانکه دا واقعه ئی تر آخره پورے راوړيده چه د نجاشی خط پيغمبر عليه السلام ته رارسيدلې دے خو دا بيا معلومه نده چه پيغمبر عليه السلام جواب ورکړيدے او که نۀ ئی دے ورکړے ، او بيا په دغه ځائی کې تلبيس کوی او قصه بدله کړی او بيا وائی چه ددې نه معلوميږي چه نجاشی حکم د غير ما انزل الله کولو کې څه قباحت دے ، خه اوس دا پرې ده دا کفر دے او کنه خو ددې په حرمت کې د چا اختلاف نشته دے ، کم ازکم حرام خو دي کنه حکم بغير ما أنزل الله کول خو چه يو سړے راپاځيږی او هغه ئی د جواز دلائل پيش کوی ، نو آيا دا تحليل د ما حرم الله ندے ؟ او دا سړے بيا ځان ته مسلمان او ديندراه وائی هغه خو پريږده چه پيغمبران ئی متهم کړل ، هغه ئی هم پريږده چه د نجاشی غوندې يو بزرګ انسان ئی متهم کړو خو د هغې باوجود دې خبرے ته لږ سوچ اوکړه چه څومره قبيحه خبره ئی کړيده .

۳/ شبهه : چه دوی پیش کوی چه حضرت عمر ﵁ حکم بغیر ما انزل الله کړیدے ، نو اوس په صحابو باندې ردونه کوی او په صحابه ؤ باندې تهمتونه لګوی چه حضرت عمر رضي الله عنه د الله تعالیٰ په احکاماتو باندې فیصله نده کړے نو بیا خو دې په هغهٔ باندې هم حکم د کفر ولګولې شی ؟ «**نعوذ بالله من ذلک**» .

جواب : دا کومه واقعه ده ؟ نو دوی وائی : چه هغه یو سړے چه راغے او غلا ئی کړی وه او بیا حضرت عمر رضي الله عنه د قحط په زمانه کې هغه معاف کړو او د لاس د کټ کولو حکم ئی پرې اونهٔ کړو ، نو دا ئی حکم بغیر ما انزل الله اوکړو او که نه ؟ جواب : دا خو اصل کې حضرت عمر رضي الله عنه حکم بما انزل الله کړیدے ، ځکه زمانه د قحط وه او داسې په سخت تکلیف کې خلق مبتلاء شوی وو چه کله دا سړے راغے نو دهٔ ورته دا عذر وړاندې کړو چه زهٔ هلاکیدلم او زما خاندان هلاکیدلو نو ما دغه دوکان ووهلو او د هغې نه مې سامان وړیدے نو دا خو اصل کې الله فرمائی : ﴿ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِ ﴾[1] هغه غریب داسې حالت ته رسیدلې وو چه هغه هلاک کیدلو او د مجبورئ په حالت کې وو او حضرت عمر رضي الله عنه ورته معافی اوکړه ځکه چه الله فرمائی : « **فلا اثم علیه** » نو تاته وایم : چه آیا دا ئی د الله په حکم باندې فیصله اوکړه او که د الله د قانون نه ئی بغیر فیصله اوکړه ؟ نو دا ئی د الله په قانون باندې فیصله اوکړه ځکه چه الله وائی چه ګناه پرې نشته دے ، اوس د دوې خبره دا ، او دا د اهون البلیتین خبره ده چه د دوو مصیبتو او ضررونو په مینځ کې تهٔ راګیر شے نو تهٔ ځانله یو طرف مختاره کړے نو پدیکې خو څهٔ خبره نشته دے ، لکه لوط علیه السلام چه خپل قوم ته خپلې لونړه وړاندې کوی او ورته وائی : ﴿ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطۡهَرُ لَكُمۡ ﴾[2] دا زما لونړه دی تاسو دپاره پاکې دی نو ټول قوم خو د هغې سره نکاح

---

[1] [سورة البقرة : ۱۷۳] .

[2] [سورة هود : ۷۸] .

نشوه کولې ، بعضی علماء وائی : چه دا بعضی مشران د قوم وو چه هغوی دا خلق کنټرول کولې شو نو هغې ته ئې اووئیل ، او بعضی تفاسیرو خو دا هم ذکر کړی چه هغه ورته اووئیل چه «**هؤلاء بنات هن اطهر لکم من اللواطة**» ځکه چه تاسو چه بل مصیبت کوئ نو هغه ډیر پلیت کار دے نو د هغې نه خو دغه زنا کول څۀ قدرے ښۀ وی کنه ، نعوذ بالله من ذلک ، نو دیته اهون البلیتین وائی، نو دا خو حضرت عمر ﵁ په وړوکې مصیبت باندې عمل اوکړو ، او حضرت عمر ﵁ خو محفوظ دے د گناه نه ځکه چه صحابی دے ، که حضرت عمر ﵁ دا فیصله کړیده نو زۀ ستانه دا تپوس کوم چه ته څۀ وائی : چه دا حضرت عمر ﵁ گناه کړیده ؟ نو که ووائی : چه گناه ئی کړیده نو بیا هم گمراه کیږے ، ځکه صحابه کرام خو محفوظ خلق دی ، او که ته وائی : چه دا گناه ئی کړیده او بیا په هغې باندې باقی پاتې شویدے نو دا تۀ عجیبه خبره کوے او دا حرام دی د صحابه کرامو په باره کې ، او که ته وائی : چه حضرت عمر رضي الله عنه گناه نده کړی او دا کوم کار ئی چه کړے دے نو دا خو حکم بغیر ما انزل الله خو دے خو دا حلال او جائز دے ، نو دا خو تۀ تحلیل د ما حرم الله کوے ، او پدې باندې خو اجماع ده چه د الله د قانون نه بغیر په بل قانون باندې فیصله کول خو حرام دی نو بیا په کفر کې اخته کیږی ، لهذا دا دریمه خبره درته پاتې ده چه کومه مونږه کوو : چه حضرت عمر ﵁ حکم بغیر ما انزل الله ندے کړے بلکه حضرت عمر ﵁ حکم بما انزل الله کړیدے ، ځکه چه الله فرمائی : « **فلا اثم علیه** » چه کله په دومره تکلیف کې واقع شی چه دا پکې هلاکیږی نو بیا په دۀ باندې گناه نشته ، نو الله ترینه گناه نفی کړیده او حضرت عمر ﵁ پدغه آیات باندې عمل اوکړو ، نو دا حکم بما انزل الله شو او که بغیر ما انزل الله شو؟

٤/ شبهه : چه دوی پیش کوی چه حدیث کې راځي : «**لاتقطعوا الایدی فی الغزو**» چه په غزا کې لاسونه مۀ کټ کوئ '' ، که یو سړے په غزا کې په بیت المال کې خیانت اوکړی نو

دده لاسونه مهٔ کټ کوئ، او بيا وائي : ﴿ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا ﴾[1] نو دا نص دے او د قرآن آيت دے نو پدې مسئله کې اوس حکم د بما انزل الله ونهٔ شو او حکم بغير ما انزل الله اوشو ؟

جواب : يو خو دا کلام د پيغمبر عليه السلام دے او پيغمبر خو شارع دے چه پيغمبر وائي چه مهٔ کټ کوه نو ته به ئې نهٔ کټ کوے ، ځکه چه الله فرمائي : ﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝٤ ﴾[2] او کله نسخ د قرآن په حديث سره هم راځي ، بل دا خبره ده : چه دلته اهون البليتين دے او هغه دا دے : چه يو طرف ته لاس کټ کول دی او کيديشې چه دې لاس کټ کولو سره دې لاړ شی او د کفر په صف کې شامل شی ځکه چه توره خو ورسره په لاس کې ده ، نو بنهٔ خبره دا ده : چه لاس ترې مهٔ کټ کوه او په اهون البليتين باندې حکم کول دا هم د اسلام او د شريعت کار دے ، او غټه خبره پکې دا ده چه د پيغمبر عليه السلام کلام دے او پديکې ستا دا خبره نهٔ چليږی ، ځکه چه پيغمبر چه څهٔ خبره هم کوی نو هغه د الله د طرف نه وی نو دا حکم بما انزل الله دے نه دا چه بغير ما انزل الله ئې وګرځوے .

٥/ شبهه : دوی پيش کوی ، چه حجاج ابن يوسف خو هم حکم بغير ما انزل الله کړيدے، البانی ليکلی دی : چه حجاج ابن يوسف خپل ګورنر ته خط اوليږلو او په هغه خط کې ورته ليکلې وو چه فلانې قتل کړه او دا قتل په ناحقه وو نو دا حکم بغير ما انزل الله وو؟

جواب : د حجاج په ګناهګارئ کې خو هيچا هم شک ندے کړے ، او که ته وائي : چه پدې باندې دې دا کافر کړے شی ، او په حجاج باندې خو اجماع د امت ده چه دا مسلمان دے ، نو اولا خبره دا کوو : چه اجماع مهٔ وايه : پديکې مخالفت شته دے تخلف پکې شته

[1] [سورة المائدة : ٣٨] .

[2] [سورة النجم : ٣ ـ ٤] .

دے ، امام شعبي چه كله د حجاج په باره كې ليكل كوى نو د حجاج په باره كې بلا اقوال رانقل كوى او د بلا محدثينو اقوال دا دى : «انه كفر بالله وآمن بالطاغوت» " چه حجاج په الله باندې كفر كړيدے او په طاغوت باندې ئې ايمان راوړيدے " ، نو په حجاج باندې د كفر فتوى وركړے شوے ده ، خو اجماعي خبره نده لكه دا ته چه وائې چه اجماع ده پكې ، او كه حجاج مسلمان شو نو بيا ورته هم كافر نه وايو نو مونږه بيا وايو : چه دا خو فيصله ده د قانون حيثيت ئې خو ندے وركړے ، او مونږ دا وايو : چه يو سړے يوه فيصله دوه اوكړى داسې او قانوني حيثيت ورنكړى نو دا نۀ كافر كيږى ، دا خبره خو مونږه د اول نه كړيده ، خو دوى به د داسې عجيب ځائى نه استدلال اوكړى چه هغه ځائى به د استدلال قابل نوى ، او بيا هم وائې چه ددې ځائى نه معلوميږى چه حكم بغير ماانزل الله دا جائز دے ، نو هلكه دا ته څه خبرې كوے كه چرته دا د ګناه په حيثيت سره شى نو مونږه خو ده ته ګناهګار وايو كنه او كه د حجاج په كفر لحاظ شى نو هغه كې هم ډير اقوال دي ، او كه ته وائې چه كافر ندے مسلمان دے نو دا خبره هم درسره منو ، او كه وائې چه دې مسلمان وو او بيا هم حكم بغير ما انزل الله كړے نو دا خو ئې يوه فيصله كړيده څۀ قانوني حيثيت ئې ندے وركړے ، او مونږ خو وايو : چه څوک د الله قانون رد كړى او د هغې په ځائى باندې بل قانون كيدى نو دغه ترديد د قانون د الله دا كفر دے ، او د الله قانون سره بل قانون ايخودل يا د هغې سره مساوى ، يا د هغې نه بهتره ، نو مونږه هغې ته كفر وايو .

٦/ شبهه : د دعوت د مصلحت دپاره په جمهوريت كې شركت :

بعضې اسلامي ډلې يا افراد د دعوت د مصلحت په بهانه په جمهوريت كې برخه اخلى او دليل دا پيش كوى : چه كه چرے دا خلق ووتونه ته نۀ ودريږى نو يو بله د اسلام دشمنه ډله يا كس به اقتدار ته رائې .

او دا دليل هم پيش كوى : چه مونږه كوشش كوو چه د اسلامي قوانينو د نافذ كولو دپاره د پارلمان په ذريعې لاره هواره كړو .

كله كله دا هم وائې : چه په جمهورى نظام او حكومتونو كې هغه كس ته د دعوتي كار دپاره

عام اجازت موجود وي چه کوم کس جمهوريت منی د جمهوری نظام په چوکاټ کې اوسيږي ، او څوک چه د جمهوری نظام د چوکاټ نه بهر وي نو هغه د قسما قسم پابنديانو سره مخ وي ، نو په دې غرض چه خلقو ته دعوت ورکړي او د معاشرې ټولو طبقو ته خپل آواز ورسوي ، د دعوت مصلحت دا تقاضا کوي چه د جمهوريت په محل کې دې دننه کار اوکړے شی ، او په جمهوريت کې دې د بيان د آزادئ نه فائده واخستل شی .

د پورتنی وهمی دلائلو او بهانو په باره کې لاندې څو جوابونه ذکر کولے شی :

اول جواب : يو داسې نظام چه د خپل بنياد په اساس په اعتبار په کفر باندې ولاړ دے لکه د جمهوريت چه د سيکولرزم (لا دينيت) په کفر باندې ولاړ دے ، او چه دين له د ژوند او حکومت په کارونو کې مداخلت (د کار ساتلو) جق نهٔ ورکوي ، او په کوم کې چه حلال او حرام تعيين د انسانانو د اکثريت د تائيد په ذريعه باندې کيږی ، او د الله تعالیٰ د شريعت سازئ (قانون سازئ) حق اخستل شوے او بشر (انسان) له ورکړے شوے وي ، او په کوم کې چه د کفر او اسلام په مينځ کې فرق نه وي ، او ټولو ته صرف د انسان په نظر کتل کيږی ، او چه په کوم کې د مسلمان او کافر يو شان اهميت وي ، او امر بالمعروف او نهي عن المنکر په خپل مينځ کې د ټکراؤ د وجه نه منع کړے شوے وي ، او د دين نه اوړيدل د انسان خپل انفرادی حق وي ، او هغه په دې باندې د هر قسم سزا نه بچ ساتلے شوے وي ، او د اسلام په خلاف آواز اوچتونکو ته د اظهار رائې د آزادئ په بناء باندې جائز او قانونی کار ګنړل شوے وي ، نو په داسې کفری نظام کې شرکت کول آيا ددې تائيد او دې منل به نهٔ وي ؟

آيا د داسې کفري نظام په دائره کې کار کول او ددې منل به د هغه توحيد منافی نهٔ وي کوم چه د ټولو نه مخکې طاغوت غټ کفر منلو مطالبه کوي ؟ هغه توحيد چه د لا إلٰه په ذريعې د إلا الله نه مخکې د هر قسم د طاغوت نه د بيزارئ اعلان غواړی ؟ په اسلام کې د هغه کس اسلام هيڅ کله قبول نهٔ دے چه د شرک سره اعلان د جنګ نهٔ کوي ، الله تعالیٰ خو د کفر بالطاغوت د ايمان بالله نه مخکې بيان کړے دے ، الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ ﴾[1]

" چا چه انکار اوکړو د طاغوت نه او په الله تعالیٰ باندې ئې ایمان راوړو هغه په یو مضبوطې کړئ باندې منګولې اولګولې ".

نو آیا په دې کې به د اسلامی دعوت مصلحت نه وي چه د کفر صف جدا او د اسلام صف جدا وي چه خالص توحید مخې ته راشی ، او د کفر سره قطع تعلق اوشی ، او ددې په واضحه او صفا الفاظو کې اعلان وشی ، یا به د اسلام حکومت مصلحت په دې کې نهٔ وي چه بعضې ذکر کړے شوی اهم جزئې مصالحو دپاره دې د توحید د اعلیٰ مصلحت قربانی ورکړے شی ؟

په اسلام کې خو د ټولو مصالحو نه غټ مصلحت د الله تعالیٰ توحید دے او د طاغوت نه قطع تعلقي (انکار کول) دي ، که چرې دا مصلحت د مینځ نه ختم شي ، نو ددې په ځائې به په زرګونو نور مصلحتونه بې کاره شي ، د مشرکانو ، ملحدینو ، کمیونسټو ، او سیکولر خلقو سره په مجلس کې د قانون په دائره کې دننه د یو نظام چلولو دپاره یو ځائې کیناستل او هغوی له د کفر بیانولو حق ورکول نهٔ خو څه اسلام دے ، او نهٔ اسلامي دعوت دپاره څه مصلحت دے ، بلکه الله تعالیٰ ښکاره د هغه خلقو سره د ناستې نه منع کړے ده ، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾ ﴾[2]

" او هغه په تاسو باندې په کتاب کې دا حکم نازل کړے دے چه کله تاسو واورئ چه د هغه د آیتونو نه انکار کیږی او ټوقې ورپورې کیږي نو د داسې خلقو سره د هغې وخت

[1] [سورة البقرة : ٢٥٦].

[2] [سورة النساء : ١٤٠].

پورې مه کینئ ترڅو چه هغوی په بله خبره کې مشغوله شوی نه وي ، ورنه تاسو به هم د هغې خلقو پشان شئ ، یقینا الله تعالیٰ به ټول منافقان او کافران په جهنم کې راجمع کړي ".

په موجوده پارلمان کې خو ښکاره کتلے کیږی چه سیکولر (بې دینه) عناصر ، کمیونسټ، د خواهشاتو بندګان او ګمراه پارټیانې (ډلې / جماعتونه) ښه په کهولاؤ او فخر سره د ارتداد دفاع کوي ، د کفریه قوانینو طرفداري کوي او د اسلامي حکمونو لکه جهاد ، حدود ، حجاب وغیره پورے ټوقې کوي ، او په قسما قسم بدو نومونو سره ئې یادوي ، لیکن بیا هم ټش په جمهوریت پسند او پارلمانی مسلمانان د دعوت د مصلحت په بهانه د ګمراهانو سره په یو ځائی کې په پارلمان کې کار کوي .

دویم جواب : په اسلامي دنیا کې اکثر پارلمانیانو هغه پارټئ چه خپل ځان ته د مسلمانانو سفیر وائی اقلیتو کې دي ، چه د سیکولر پارټیانو د اکثریت په مقابله کې د خپل اقلیت د وجه نه په غیر اسلامی قوانینو کې څه بدلون نه شی راوستے ، ځکه چه په جمهوریت کې د اکثریت رائی قبلولے شی ، ددې وجه نه په تیرو اتیا **80** کالو کې چه جمهوریت په اسلامی دنیا کې په کومو کومو حکومتونو کې راغلے ، چرته هم دا نه دي کتل شوي چه د جمهوریت او د انتخاباتو په ذریعې سره په یو اسلامی ملک کې اسلامي شریعت نافذ شوے وي ، لیکن بیا هم جمهوریت پسند او ټش د نوم مسلمان ددې نه لاس نه اخلی ، او د بدلون دپاره نبوي ښودلے شوي لارې ته رجوع نه کوی ، چه دا په خپله د هغوي په نیتونو او اخلاص باندې د شک باعث ګرځی .

دریم جواب : رسول الله ﷺ ته هم د مکې مشرکانو هم دغه د جمهوریت پشان د یو مشترک نظام وړاندې کړے وو د یو داسې نظام چه په کې شرکی عقائد ، نظریات ، تصورات او اعمال محفوظ او بچ وي ، او یو حده پورے په هغې کې اسلام هم په نظر راځي ، لیکن د هغې د موجوده جمهوریت سره دومره فرق وو چه بې د انتخاباتو او اکثریت نه ئې مشری ، مال ، حکومت او سیاسی قیادت هغوی رسول الله ﷺ له ورکوو ، لکه څنګه چه د هغوی ﷺ

په سيرت کې ذکر دي چه د مکې د مشرکانو سردارانو خپله شوری را وبلله ، او په یوه خبره ئې اتفاق اوکړو چه عتبه بن ربيعه چه د بنو عبد شمس د سردا رانو نه وو هغه ئې رسول الله ﷺ ته اوليږو ، لهذا عتبه د هغوي ﷺ خواته راغے او وې وئيل : اے وراره ! تا ته پته ده چه ته په مونږ کې د ښه حسب او نسب مالک ئې ، ليکن تا يو داسې دين راوړے چه د هغې د وجه نه تا زمونږه اتفاق او اتحاد ټکړے ټکړے کړو ، ته زمونږه او د خپل پلار نيکهٔ معبودانو ته بد رد وائې ، هغوی بې وقوفه ګڼړې او د هغوي دين ته کفر او د هغوي پلار نيکهٔ ته کافر وائې ، زه تا ته يو څو پيشکش کوم ، وئيل : ته هغه قبول کړه ، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : اے ابو لبيده ! وايه زه اورم ، عتبه خپل پيشکشونه داسې وړاندې کړل : اے وراره ! که چرے ته د خپل دعوت پريښودو په بدله کې مال غواړے ، نو مونږ به دومره مال راجمع کړو چه ته به مالداره شې او که چرې عزت غواړې نو مونږ به تا خپل سردار اوګرځوو چه ستا نه غير به يو فيصله هم نه کيږی ، او که چرې بادشاه جوړيدل غواړې نو مونږه به تا خپل بادشاه هم جوړ کړو که چرې په تا باندې څه پيريان وي نو مونږه به تا يو کاهن له بوځو او هغه به تا باندې دم واچوي او په دې کار کې چه زمونږه څومره مال لګی مونږه به ئې خرچ کړو چه ته ددې تکليف نه خلاص شې .

رسول الله ﷺ چه د هغه خبره واؤريده ، نو وې فرمائيل : اے ابو لبيده ! ستا خبرے ختمې شوے ؟ هغه اووئيل : آو ، بيا ورته رسول الله ﷺ اوفرمائيل : اوس زما خبرے هم واؤره : نو ورته ئې د سورت فصلت (حم السجده) يو څو آيتونه تلاوت کړل .

لږ سوچ پکار دے ! نبی کريم ﷺ د قريشو سره يو داسې مشترک او مخلوط (ګډوډ) پيشکشونه رد کړل ، چه د هغې سردار به رسول الله ﷺ په خپله وو ، لهذا دا خبره ښکاره معلومه شوه چه رسول الله ﷺ دمظلوميت او محروميت په وخت کې چه هغه او د هغوی صحابو له به قسما قسم تکليف ورکولے شو په داسې حال کې هم د مشرکانو وړاندې کړے شوے نظام او نظريه قبوله نهٔ کړه ، حالانکه ددې پيشکشونو په منلو سره به په مسلمانانو (چه مظلومه وو) څه آسانی هم راغلے وے ، ليکن بيا هم رسول الله ﷺ دا ددې دپاره ونه

کړل چه مسلمانانو ته دا تعلیم میلاؤ شی چه مؤمن او کافر په داسې نظام کې نه شی یوځائی کیدلے چه په کې اسلام د کفر تابع وي .

قریشو د اوسني کافرانو غوندے دورغ او دهوکه نۀ خوښوله هغوی د رسول الله ﷺ سره په خپله وعده کې ریشتوني وو هغوي د رسول الله ﷺ له مشري ، مال ، او بادشاهي ورکوله، لیکن ددې په مقابله کې هغوي د رسول الله ﷺ نه د جاهلیت خلاف مقابله بندوله ، او دا هغه کار دے چه دا اوسنۍ زمانې جمهوري کافران ئې هم د مسلمانانو نه غواړي ، خو رسول الله ﷺ ورسره بیا هم د هغوي داسې پیشکشونه ونۀ ومنل .

اوس سوال دا دے : چه هغه پارټیانې چه خپل ځان ته اسلامي وائی ، او په جمهوریت کې د خپل شرکت د وجه هغوي ددې (جمهوریت) تائید کوي او په خپل تور مخ او ګنده کردار باندې پرده اچوي آیا دوي له هغه حیثیت او د اقتدار منصبونه ورکول کیږي د کومو چه قریشو رسول الله ﷺ ته پیشکشونه کړي وو ؟ بالکل نۀ .

آیا رشتیا هم دغه شان ځان دهوکه کونکي اسلامي پارټیانو ته په جمهوریت کې د صحیح اسلام بیانولو او د کفر د ټولو صورتونو رد کولو او د هغې خلاف عملي اقدامات کولو اجازت ورکول کیږی ؟ که چرے ورکول کیږي نو په تیره یوه صدۍ کې دا حق په کوم مسلمان ملک کې کتل شوے دے ؟ که چرے نه ورکول کیږی نو بیا ولې دا خلق د باطل نه استدلال کوي، او اسلام ته د دعوت ورکولو د نبوي منهج نه (چه مثال ئې د صحابو ژوند او د هغوي دعوت دے) ولې مخ اړوي ؟ که چرې دغه شان جمهوریت کې په شرکت کولو کې مصلحت وے نو رسول الله ﷺ هغه وخت د قریشو پیشکشونه قبول کړي وے ، حالانکه د مسلمانانو دپاره سوا د برادشت او صبر نه بله لاره نۀ وه ، هغه وخت رسول الله ﷺ خپل مظلوم صحابو ته د حبشې د هجرت کولو اجازت ورکړو ، لیکن د مشرکانو سره ئې د یو مشرک نظام کې پاتې کیدل خوښ نۀ کړل ، ددې دپاره چه مسلمانانو ته دا تعلیم میلاؤ شی چه اسلام د جاهلیت د هر قید او بند نه آزاد میدان او نظام غواړي مسلمانان تر هغه وخته پورے په آرام او قلاره ناست نۀ دي چه تر څو ئې ځان له یو خالص اسلامي نظام نۀ وو جوړ کړے .

څلورم جواب : د اسلامي دنيا نزدې ماضي (تير وخت) تاريخ په دې خبره ګواه دے چه جمهوريت او انتخابات صرف ڪفريه نظام مضبوطوي ، او هغې د ترقۍ دپاره کار کوي ، په جمهوری اسلام کې د عملي اسلام د نفاذ هيڅ ځائي نشته ، اګر که مسلمانان د جمهوريت د لارې اقتدار حاصل هم کړي .

په مصر کې د تيرو اتياؤ 80 کالو اوږدې زمانې نه " الإخوان المسلمين " په جمهوريت کې د مشارکت د لارې د اسلامی حکومت دپاره ښه مضبوط کوشش کوي ، خو کله چه هم مصري حکومت ته د " الإخوان " د طرف نه د څه ديني بدلون نخې معلومې شي نو سمدستي ئې په څه مصيبت کې اخته کړي ، يا خو د هغوي قائدين (مشران) په زندانونو کې واچوي يا ئې مالونه ضبط کړي او دهغوي په مشرانو باندې په سياسی ميدان کې پرې پابندياني ولګوی ، هم دغه وجه ده چه په مصر کې د تيرو اتياؤ 80 کالو نه اسلامي حکومت جوړ نۀ شو او نه يوه اسلامي معاشره مخې ته راغله او " الإخوان " هم په خپلو اصولو او بنيادونو باندې مضبوط پاتې نه شو کوم چه امام البناء او سيد قطب شهيد رحمهما الله په خپلو تقريرنو او تاليفاتو (کتابونو او رسالو) کې د " الإخوان المسلمين " د نظرياتي او عملي د لارې په طريقه واضح کړي وو ، بلکه د وخت تيريدو سره جمهوريت د هغوي عزم (ارادې) سستې او منشور ئې ورله بدل کړو .

په ترکي کې د " نجم الدين اربڪان " اسلام پرست تنظيم چه په انتخاباتو کې د جمهوريت د اصولو مطابق اکثريت واخستو حکومت جوړ کړو خو چه کله د ترکي سيکولر او د جمهوريت دفاع کونڪي فوج چه د اسلام د مفادو کې کيدونڪې تبديلۍ اوليدې نو سمدستي ئې د هغوي حکومت ختم کړو په " اربڪان " تنظيم باندې ئې پابندۍ اولګولے او د هغې قائدين ئې په سياست کې د برخې اخستو نه منع کړل .

دغه شان د شمالي افريقې د ټولو نه غټ ملک " الجزائر " کې چه کله " جبهة الانقاذ الاسلامية " پارټۍ د مغربي جمهوريت د اصولو مطابق په انتخاباتو کې اکثريت واخستو نو

هلته هم سیکولر فوج مداخلت اوکړو او د انتخاباتو نتیجې ئې غلطې اوګرځولے او د اسلامي پارټئ قائدین ئې په زندانونو کې واچول ، او د الجزائر مسلمانان ئې په یو داسې کورنئ جګړه کې اخته کړل چه دهغې لمبې تر اوسه پورے شغلې وهي او په زرګونو مسلمانان ئې په دې اور کې اوسوزل او اوسه پورے سوزي .

دارنګه زمونږه او ستاسو په ملکونو کې هم چه کله اسلامي جماعتونو په خپلو علاقو کې انتخابات اوګټل او خپل حکومت ئې جوړ کړو نو هغوي هم په خپل ټول پوره حکومتي وخت کې یو اسلامي قانون هم نافذ نهٔ کړے شو او نهٔ ئې د اسلام د فائدے دپاره یو داسې قدم اخستے وو چه د تاریخ په پاڼړو کې ئې خائست لرلے وے ، بلکه هغوي په ډیر مشکلاتو سره صرف هغه کارونه مخکې کړل چه کوم سیکولر حکومتونه ښه په آسانئ سره چلوي ، او د هغې وجه دا وه چه دې جمهوری حکومت ته د مرکزي حکومت د طرف نه دا اجازت نهٔ وو میلاؤ چه دوي اسلام نافذ کړي .

او دویمه خبره چه دوي هم د جمهوریت سره د وفادارئ قسم خوړلے وو ، دغه شان په پوره دنیا کې اسلامي شریعت عملاً د نافذ کولو نه لرې ساتلے شي او ددې منونکي هم د حکومت نه محرومولے شي ، اګر که هغوي د جمهوریت د لارې اقتدار ته رسیږي ، لهذا معلومه شوه چه په جمهوریت کې د صحیح اسلام دپاره هیڅ ځائې نشته ، البته ! دا کیدے شي چه د جمهوریت د لارې دې کفر د اسلام په جامه کې اوښودلے شي لکه سیکولر اسلام او ډیموکریټک اسلام

۷/ شبهه : چه دوی ئې پیش کوی ، نو دا شبهه دوی د شوری پیش کوی چه دا نتخابات او جمهوریت خو د شوری مثال لری ، او شوری خو په اسلام کې شته دے ؟

جواب : نو ګورئ رونړو اول مونږه دا خبره کوو چه د مغرب مسلط کړی سیکولر عناصر چه هر وخت په اسلامی نړئ کې د جمهوریت د خوررولو او نافذ کولو په کوشش کې دي ، هغوی غواړی چه د مسلمانانو د دهوکه کولو دپاره مغربي بې دینه جمهوریت له د شوری نوم ورکړی ، او دا دروغو تبلیغ کوی چه دا جمهوریت د شورائی نظام یو نوے شکل دے ، او ددې نه د اسلامی شوری نظام عملی کیږی ، خو لیکن دا خلق دې یاد ساتی چه دیته شورئ نوم

ورکولو سره هغه اسلامی شوری نهٔ ګرځی لکه شراب چه د روحی مشروب او زنا چه د جنسی تقاضا په وجه جائز او حلاله نه ګرځی ، د اسلامی شوری او د انتخابات جمهوريت او د پارلمان په مينځ کې د حق او د باطل فرق دے ، چه د هغې ځينې مونږه لاندې په ترتيب سره بيان وو:

۱/ فرق : چه په شوری کې اکثريت ته ترجيح نوی ، او په جمهوريت کې اکثريت ته ترجيح وی ، په شوری کې اکثريت ته ترجيح ځکه نوی چه الله پاک فرمائی : ﴿ وَشَاوِرْهُمْ فِي ٱلْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ ﴾[1] نو دلته خو دا ذکر شويدی چه کله ته په يوه خبره عزم اوکړے دا خو ندی راغلی «**فأذا عزم اکثرهم**» چه کله په اکثريت عزم راشی نو په هغې باندې عمل شروع کړه ، نو په شوری کې دا ده : چه د امير ذهن ته کومه خبره اوغورځيده نو هغې لره به اعتبار وی ضروری خبره نده چه امير دې د اکثريت تابعداری اوکړی ، او په شوری کې د پيغمبر عليه السلام تابعداری هم ګوره او افراد ئی هم ګوره : د پيغمبر عليه السلام د وفات په وخت کې د صحابه کرامو تعداد څه د پاسه لاکهه ته رسيدلې وو او پديکې د پيغمبر عليه السلام د شوری کسان شپږ دی ، لکه کله چه په احاديثو کې خبره راځی او د پيغمبر عليه السلام د شوری ملګرو نه پکې يو وی نو وائی « احد السته » نو اوس ته سوچ اوکړه چه څهٔ دپاسه د يو لاکه نه د پيغمبر عليه السلام شوری کسان شپږ دی نو دا د اکثريت تابعداری ده ؟ او بيا پدې شپږو کسانو کې چه کومه خبره د پيغمبر عليه السلام خوښه شی نو په هغې باندې عمل کوی .

دغه شان د پيغمبر عليه السلام د اُحد په موقعه باندې د اکثريت رائی دا وه : چه په مدينه کې جنګيږو لکن پيغمبر عليه السلام د اکثريت په رائی باندې عمل اونهٔ کړو او عزم ئی پدې خبره راغلو چه بهر ورته ورځوو ، نو اکثريت ته ئی ونهٔ کتل ، دغه شان د صلح حديبې په موقعه باندې اوګوره : د اکثرو صحابه ؤ رائی دا وه : چه مونږه دې صلح اونهٔ کړو بلکه

---

[1] [سورة آل عمران : ۱۵۹] .

جنګ دې اوکړو ، خو د پيغمبر عليه السلام رائې دا شوه چه جنګ نۀ کوو بلکه صلح کوو ، نو بيا اکثريت لره ترجيح ورنۀ کړه ، او داسې نور ډير زيات مثالونه دی چه بعضی د هغې نه محکې د اکثريت پسندئ موضوع کې واضحه کړے شوی وو هغې ته رجوع اوکړئ .

۲/ فرق : په شوری کې دا خبره راغلې ده : ﴿ وَشَاوِرۡهُمۡ فِي ٱلۡأَمۡرِ ﴾ د مشورې امير ته اختيار دے چه دا دې د نورو سره مشوره اوکړی ، او په جمهوريت کې دی چه : «**شاورو عليه**» په زوره پرې مشوره اوکړه نو په جمهوريت کې د اکثريت رائې پده باندې په زوره منلې شی ، او په شوری کې امير ته اختيار دې چه مشوره ترې اخلی او که نۀ اخلې ، او په جمهوريت کې د اکثريت نه خلاف نشی کولے ، نو ددې نه دا خبره معلومه شوه چه په جمهوريت کې امير نۀ وی موجود اګر که ځان ته د وخت بادشاه وائې ، وجه ئې دا ده : چه امير اجبار کوی او په جمهوريت کې جبر نشی کولے د عوامو د رائې مطابق به چليږې ، نو چه کله ته جبر نشی کولے نو امير ندے موجود او «**من لم يکن له امير فأميره شيطان**» او چه د چا امير نوی نو د هغې امير شيطان وی ، نو په جمهوريت کې اصلی کردار د امارت شيطان اداکوی ، نو دا خلق ډير ګنده ګنده اذهان لری ځکه بيا داسې ګنده خبرے کوی .

۳/ فرق : چه د شوری امر د الله د طرف نه دے ، او د جمهوريت امر د اکثريت د طرف نه دے ، نو شوری يو اسلامی منهج دے ، او جمهوريت مغربی منهج دے ، او په شوری کې امير موجود وی ، او په جمهوريت کې امير موجود نوی ، او په شوری کې امير صرف د الله نه مجبور وی او په جمهوريت کې مشر د اکثريت نه مجبور وی ، نو ديته امير نۀ ويلې کيږی ، نو د شوری سره ددې جمهوريت هيڅ مطابقت نشته ، لکه حديث کې راځي : «**لَتَشْرَبَنَّ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ بِاسْمٍ يُسَمُّونَهَا إِيَّاهُ**» [1] او بل روايت کې راځي : «**لتستحلن طائفة من امتی الخمر ويسمونها بغير اسمها**» نو دا جمهوريت يو کفر دے نو دوی دې جمهوريت ته نوم بدل کړی

---

[1] [مصنف ابن ابي شيبة : ۹ / ۲۷۹] .

او شوری نوم ورته ورکړی او بیا ورته اسلامی شوری وائی ، نو دا اسلامی شوری نوم ورکول دیته دا سراسر ظلم دے او کفر دے او سراسر جبر دے چه دا خلق ئی کوی او پدې زیاتی کې دوی مبتلاء دی ، الله دې مونږه ته عافیت اوکړی .

٤/ فرق : اسلامی شوری د مؤمنانو ، موحدینو او د شریعت منونکو مسلمانانو یو جماعت او ډله وی ، حالانکه د پارلمانی رائی (ووټ) اخستل په یو داسې مجلس د ارکانو په مینځ کې وی چه په کې مسلم ، هندو ، عیسائی ، یهودی ، کمیونسټ او ملحد ټول په ټوله یو شان د رائی (ووټ) حق لري ، او په دې کې فیصله په جائز او ناجائز او د دلیل د قوت (مضبوطیا) او ضُعف (کمزورتیا) په معیار او بنیاد نهٔ وی ، بلکه په اکثریت باندې کیږی .

قرآن کریم چه چرته د شوری ذکر کړے دے نو هغه ئې د مؤمنانو دپاره په طریقه د صفت او وصف بیان کړے دے ، چه کوم په الله تعالیٰ باندې ایمان لري ، د هغه په ذات باندې توکل او اعتماد کوی ، د غټو ګناهونو خصوصا د بې حیائی د کارونو نه ځان ساتی ، او چه دوی له په چا باندې غصه ورشی نو مخ ترې اړوی ، او د خپل رب په آواز باندې لبیک وائی ، مونځونه صحیح صحیح اداء کوی ، او د هغوی په خپل مینځ کې کارونه په مشوره باندې وی ، او د الله تعالیٰ د ورکړے شوي مال نه صرف (خرچ) کوی ، او چه په هغوی باندې ظلم و زیاتې اوشی نو هغوی ئې بدله اخلی .

قرآن کریم کې الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴾[1] ، لیکن جمهوریت او پارلمان د رائی اخستنه (ووټونه کول) دا وائی : « أمرهم شورى بينهم وبين غيرهم » یعنی په اسلام کې مشوره صرف د مؤمنانو په مینځ کې وی او په جمهوریت کې مشوره د مؤمنانو او د کافرانو د ټولو په مینځ کې وی ، لهذا اسلامی شوری او د جمهوریت رائی اخستنې (ووټونو کولو) ته یو شیز وئیل په حقیقت کې حق او باطل په خپل مینځ کې میلاول دي .

[1] [سورة الشورى : ٣٨] .

۵/ فرق : اسلامی شوری یو الٰهی حکم او د الله راکړے شوے لاره ده ، چه د وحي په ذریعې نازل شوے ده ، او د الله رسول ﷺ ورته عملي جامه اغوستې ده ، لیکن د جمهوریت خو د انساني خواهشاتو او د هغې په آساس او بنیاد باندې د کافرانو د طرف نه جوړه شوے یوه بې دینه نظریه او خیال دے .

٦/ فرق : اسلامی مشوره په هغه کارونو کې وي چه په کومو کې نص موجود نهٔ وي او چه نص موجود وي نو د شوری ته د سره ضرورت نه پاتې کیږی ، حالانکه جمهوریت قانون کې د احکام إلٰهیه او د شریعت هیڅ مقام او مرتبه نه وي ، هم دغه وجه ده چه په جمهوریت کې د حاکم او حاکمیت یعنی تشریع حق صرف او صرف د عوامو په اختیار او واک کې وي ، چه اکثریت ئې نافذ کوی .

۷/ فرق : په جمهوریت کې اکثریت دا د إلٰه مرتبه او مقام لري ، لهذا د هغوی مرضی او واک دے چه څه قانون ئې خوښ وي جوړوي دې ، او په قوانینو جوړولو کې هیڅ یو خارجی طاقت (وحي) په دې کې د کار لرلو حق نوی ، لیکن په اسلامی شوری کې اکثریت نه صرف دا چه شریعت جوړونکې او واجب الإطاعت وي بلکه د شوری ممبران په خپل ځان باندې د شارع (الله تعالیٰ) اطاعت لازم کوی ، چه په هره مسئله کې د الله تعالیٰ او د هغه د رسول ﷺ او په جائزو کارونو کې د اولو الأمر (حَکَم) خبره منی ، په اسلامی شوری کې امام (حاکم) په هره مسئله کې د اکثریت د حکم منلو مکلف نوی ، بلکه اکثریت د امام د اطاعت مکلف وي ، تردې څو چه امام د نیکئ حکم کوی .

۸/ فرق : په جمهوریت کې د حق معیار او اساس د خلقو خواهشاتو او د اکثریت رائې وی، لیکن په اسلامي شوری کې د حق معیار اکثریت نه وي بلکه د اکثریت په ځائی د دلیل د قوت اعتبار کولے شي ، اګر که دغه دلیل د یو کس د طرف نه پیش کړے شی .

۹/ فرق : جمهوریت د یورپ په الحاد زده معاشره کې پیدا شوے ، او ترقي ئې اوکړه چه هلته دین د ژوند او نظام په ټولو چارو کې بې واکه شوے ، او یواځې د کلیسا په طرف کې

بند وی ، لیکن شوری اسلامي نظام کې د ملا (شا) د هدوکې حیثیت لري ، چه په ټولو شعبو کې چرته چه صریح نصوص (د قرآن او حدیث نه دلیل) موجود نهٔ وی نو د مسلمانانو نه مطالبه ده چه په خپل مینځ کې په اهم کارونو کې مشوره کوئ .

لهذا د برنو (پورتنو) فرقونو په بنیاد او اساس اسلامي شوری او جمهوریت دواړه جدا جدا څیزونه دي ، چه یو د اسلام نه او بل د الحاد نه مرسته اخلی ، کوم خلق چه غواړي چه جمهوریت د خلقو په سوچ او فکر کې د شوری پشان اوګرځوي نو یا خو هغوی د اسلام د شورائی نظام نه ناخبره دي ، یا بیا خبر خو دي لیکن د منافقت په وجه د جمهوریت د کفریه نظام د عامو مسلمانانو مخې ته د اسلامي شوری په قالب کې اچول غواړی ، ددې دپاره چه مسلمانان ددې مخالفت ونهٔ کړی ، او ددې د منلو سره سره په دې کې شامل او شریک هم شی .

٨ / شبهه د جمهوریت په باره کې: نو دوی وائی : چه مونږه دا جمهوریت کوو ځکه چه دا جمهوریت د اسلام سره فی الجمله یعنی په بعضې شایونو کې موافقت لری .

جواب: لکه یوه خبره ئې پکې د شوری کړیده ، او د هغې جواب خو اوشو چه دا خو شوری نده ، خو دا دوی چه دا فی الجمله خبره کوی ، نو مونږه وایو : چه دا لږ لږ موافقت ئې د اسلام سره په څهٔ کې موجود دے دا خو لګ مونږه ته هم وښائی ؟ یوه خبره د کفر مونږ ته واښائی چه هغه صحیح وی او کومه خبره ده چه تهٔ ئې دې خبرې ته مجبوره کړې چه هغه په اسلام کې نشته او ته دې کفر ته ورځې ؟ نو که هغه خبره په اسلام کې شته دے نو بیا خو اسلامی نظام راوله ؟ نو د هغې دپاره چه ته کفر ته ورځې نو دا کفر ته ورتلل خو به ددې وجې نه وی چه دا خبره په اسلام کې نشته دے ؟ اوس که د هغوی سره صحیح خبره وی او په اسلام کې نوی نو پدې خبره خو کافر کیږی ، او که ته وائې : چه هغه خبره په اسلام کې هم شته دے او په کفر کې هم شته دے نو بیا اسلام ولې پریږدې او هغې ته پسې ورځې ؟

٩/ شبهه : بله خبره دوی دا کوی : چه انتخابات د اسلام په صدر (ابتداء) کې موجود وو ، او هغه پدې شان سره چه پیغمبر علیه السلام خو خپل خلیفه نوو پریخودې ، او هغه وئیلی وو : چه ستاسو چه څنګه خوښه وی نو په هغه طریقه باندې ځانله خلیفه مقرر کړئ ، نو د انتخاباتو دپاره دوی دا شبهه پیش کوی . نعوذ بالله من ذلک .

جواب : اول خو مونږه دا وایو چه دا تاسو ته چا وئیلی دی چه پیغمبر علیه السلام خلیفه ندے پریخودے ، پیغمبر علیه السلام پیشنګوئ کړیدی فرمائی : « **يَأْبَى اللَّهُ وَالْمُؤْمِنُونَ إِلاَّ أَبَا بَكْرٍ** » [1] نو د ابو بکر رضي الله عنه په خلافت باندې پیغمبر علیه السلام باقاعده پیشنګوئ ورکړیدی ، او دغه شان پیغمبر علیه السلام فرمائی : « **ایتونی بکتاب اکتب لکم بأن لاتذلوا بعدی کی لا یتمنا متمنٍ** » " ماته یو کتاب راوړئ چه زهٔ پکې لیکل اوکړم ددې دپاره چه روستو یو متمنی دا تمنا اونهٔ کړی چه په خلافت باندې قابض شی " نو دا پیغمبر علیه السلام پیشن ګوئي ورکړیده ، او دا چه راغلی دی : ﴿ وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍۖ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿٣﴾ ﴾[2] پیغمبر علیه السلام د عائشی یا د حفصې رضي الله عنهما سره پټه خبره اوکړه، حضرت حفصې رضي الله عنها سره ئې دا خبره به کړی وی چه زما نه روسته به ابو بکر خلیفه وی او د هغهٔ نه بعد به حضرت عمر خلیفه وی ، او یا ئې د حضرت عائشی رضي الله عنها سره کړے ده نو بیا ئې ورته داسې وئیلی دی چه زما نه بعد به ستا پلار (یعنی ابو بکر) خلیفه وی او د هغه نه بعد به حضرت عمر خلیفه وی ، نو زنانؤ کې دا صفت شته دے چه یو بل ته خبرے کوی نو دوی دواړو یو بل ته خبرے اوکړے چه پیغمبر علیه السلام خو دغه شان وئیلی دی ، نو پیغمبر علیه السلام ته الله پاک په وحی سره راولیږلو او دغه آیت

[1] [المستدرک علی الصحیحین ، رقم : ٦٠١٦] .

[2] [سورة التحريم : ٣] .

نازل شو ، نو دلته اوګوره پيغمبر عليه السلام مونږه ته خبر ورکوي ، بله دا چه مونږه دا خبره اومنله چه خليفه ئې مقرر نهٔ کړو ، نو د نهٔ مقرر کولو خو دا مطلب ندے چه اوس تهٔ ددې دپاره د کفارو هغه کفري طريقه استعمالوے او که اسلامي طريقه استعمالوي نو تا ته اجازت دے ، ولې پيغمبر عليه السلام مونږه ته دا وئيلي چه «**تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ**» [1] چه ما په تاسو کې ده څيزونه پريخودی دی تاسو به چرته هم ګمراه نشئ ترڅو پورے چه تاسو په هغې باندې منګولې لګولې وی يو د الله کتاب دے او بل سنت د رسول الله ﷺ دی "، نو اوس د الله د کتاب او د سنت رسول مطابق به ته خپله طريقه چلوے او که د هغې مقابل کې ؟ ولې د هغه خلقو منع قرآن ونهٔ کړه چه کومو خلقو ځان له طريقه جوړه کړه : ﴿ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ ﴾ [2] کله ئې چې خپلو پيرانو او علماؤ ته ئې چه په هر څهٔ کې رجوع اوکړه نو الله ورته اووئيل چه دا خو دوی خدايان جوړ کړيدی نو دا نص پرې موجود ندے ؟

۱۰ / شبهه دوی دا پيش کوی : د ابو بکر رضي الله عنه په خلافت کې يا د عمر يا د عثمان رضي الله عنهم خلافت چې قائم شويدے نو دا په جمهوريت سره قائم شوے دے ،

جواب : مونږه ورته وايو : چه د ابو بکر رضي الله عنه خلافت خو د سره هم په جمهوريت سره ندے قائم شوے او هغه خو د هغه حديث د وجې نه قائم شوے دے چه «**الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ**» [3] ورنه د دوی رائې خو دا وه چه هغوئ وئيلی وو : «**منا امير ومنكم امير**» او دويمه ډله جمهوريت قبلوی انتخابات ئې قبلوی ، نو دلته هغوی د دويم حزب نه په «**الأئمة من قريش**» سره رد کړه ، او د دويمې ډلې اجازت ئې ورنهٔ کړو او انتخابات خو د دويمې ډلې اجازت ورکوی ، او

---

[1] [موطأ مالک : ٥ / ٣٧١] .

[2] [سورة التوبة : ٣١] .

[3] [مسند احمد ، رقم : ١١٨٥٩ ، وغيرهم] .

د حضرت عمر رضي الله عنه دِ خلافت انتخاب خو ابو بكر ﷺ پخپله كړے دے چه كله ابو بكر ﷺ وفات كيدلو نو وې وئيل چه عمر ﷺ راطلب كړئ ؟ نو بعضی صحابه كرامو ورته اووئيل : حضرت هغه خو دومره سخت دے او تهٔ هغه په مونږه باندې خليفه مقرر كوے، نو ابو بكر ﷺ ورته اووئيل : چه كله هغه خليفه شی نو بيا به هغه نرم شی ، نو دا تعين خو ابو بكر ﷺ كړے دے ، بيا د حضرت عمر ﷺ نه بعد حضرت عثمان ﷺ خليفه مقرر كيږی ، نو د هغه انتخاب هم د جمهوری طريقې سره ندے شوے ځكه د انتخابی طريقې كې خو د اكثريت رائی وی او حضرت عمر ﷺ په خطبه كې وفرمائيل : چه ما خوب ليدلې دے چه په ماباندې يو چرګ ټونګې وهلې په خوب كې ، او زهٔ د دې نه دا تعبير كووم چه زه به د يو عجمی سړی د لاسه شهيد كيږم نو كه چرته زهٔ شهيد كړے شوم ، نو په مسلم كې حديث راځي چه عمر ﷺ اوفرمائيل : «**فالخلافة بين هذه السته**» چه خلافت به ددې شپږو كسانو په مينځ كې وی او شپږ كسان ئی ورته ښكاره كړل : چه عثمان ، علی ، زبير ، طلحه ، سعد ، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنهم به وی نو دا شپږ كسان ئی ورته ښكاره كړل ، نو دا شپږ كسان اكثريت دے په يو نسبت سره باقی صحابه كرامو ته ؟ او پديكې اولنې انكار د خلافت نه عبدالرحمن بن عوف ﷺ اوكړو چه زهٔ خو خلافت نهٔ كووم ، او بيا پدې پنځه كسانو كې فيصله په عثمان ﷺ باندې اوشوه، او بيا ددې په باره كې د زنانه نه هم مشوره نده اغستلې شوے بعضی رواياتو كې راغلی دی او هغه هم انتهائی ضعيف روايات دی چه عبدالرحمن ﷺ د زنانؤ نه هم مشوره اغستې ده ، خو دا خبره غلطه ده ، كتابونو ليكلې دي چه «**لا أصل له**» ، نو ددې شپږو كسانو په مينځ كې خبره اوشوه ، او بخاری كې روايت دے : «**ان عبدالرحمن اقتصد فی ستة فقط**» چه عبدالرحمن ﷺ صرف پدې شپږو كسانو كې كوشش كړيدے نورو خلقو نه ئی مشورے ندی اغستی ، او بيا پدې شوریٰ كې چه كومه مشوره شويده پديكې اهل الحل والعقد پوهه پوهه خلق وو ، دا خو نهٔ وو چه ليونې ، او روغ، ښځه ، او سړے ، بوډا ، او ماشوم ، او جاهل ، فاسق ، مؤمن ، كافر چه دا ټول دې يو برابر شی

بلكه مشوره ئې صرف د اهل الحل والعقد نه اخستې وه .

بل دوی يو كتاب ليكلې په " د شرعية الانتخابات " او په هغې كې دوی وائي : چه جزئيت دا صحيح دے د نظام جاهلي نه يعنې د كفري نظام نه جزئيت حاصلول او په هغې كې كار كول نو وائی دا صحيح دے .

مونږه ورته وايو : چه دا خبره ستا غلطه ده ، ځكه د نظام جاهلي نه جزئيت نشي جوړيدلې، دوی چه وائي : چه جزئيت صحيح كيدې شی نو دليل دا پيش كوی : ۱/ مسئله د پناه ده : چه پيغمبر عليه السلام جوار حاصل كړے وو د ابو طالب سره ، دغه شان پيغمبر عليه السلام مكې ته راداخل شوے وو په جوار د مطعم بن عدی كې او هغه هم كافر وو ، نو اوګوره د كافر سره ئې پناه اخستې ده ؟ نو مونږه ورته وايو : چه د مطعم بن عدی والا حديث خو ضعيف دے ځكه ابن اسحاق او ابن هشام ابن كثير دا روايت اخستې دے او اعتماد ئې كړے دے په روايت د ابن اسحاق باندې لكن دا صحيح ندے ، نو دا حديث د ابن اسحاق د وجې نه صحيح ندے ، او د سيرت نبوی چه كوم محققين دی نو هغوئ دا خبره رد كړيده چه پيغمبر عليه السلام د دۀ سره پناه اخستې وه ، البته : د جوار په باره كې تاسو يو دليل پيش كولې شئ نو د حضرت ابو بكر رضي الله عنه د ابن دغنه سره پناه اخستې وه ، په بخاری كې حديث دے چه ابو بكر صديق رضي الله عنه هجرت كولو د مكې نه او ابن دغنه يو كافر وو د هغۀ سره په لاره كې ميلاؤ شو او نو ابن دغنه ورته اووئيل : چرته ځې يا ابا بكر ؟ نو ابو بكر رضي الله عنه ورته اووئيل : چه زۀ د مكې نه هجرت كوم ځكه خلق مې پدې مكه كې نۀ پريږدی ، نو ابن دغنه چه كافر وو هغه ورته اووئيل : چه ته خو داسې سړے نۀ ئې چه خلق به دې اوباسی ځكه تۀ خو د ميلمه عزت ساتې هميشه ، او د مسكين سره دې هميشه ښۀ سلوك كړے دے خو څرنګه چه د پيغمبر عليه السلام په صفت كې الفاظ راغلي دی نو دغه شان د ابو بكر رضي الله عنه په صفت كې هم دے ، نو ابن دغنه ورته اووئيل : چه تۀ راځه زۀ تا لره پناه دركوم او د ځان سره ئې مكې ته واپس بوتلو ، نو د امن حاصلولو دا طريقه ده چه څوک چاله امن وركړی نو بيا به دغه امن نۀ ماتوے او كافرو هم د هغې زمانې د استيمان رعايت كولو ، نو هغه ورلره پناه وركړه ، نو د مكې

مشرکانو ته ئې اووئیل : چه ابو بکر لره ما پناه ورکړيده نو هغوئ ورسره دا خبره اومنله خو دا شرط به پکې وی چه دا به خپل عبادت په ښکاره باندې نهٔ کوی بلکه خپل عبادت به په پټه کوی یا په کور کې به ئې کوی ، نو ابو بکر صدیق ﷺ خو یو صحابی وو هغه چرته داسې کولې شو خو دوه درې ورځې تیرې نهٔ وې چه بس د کور مخې ته ئې ځان لره یو ځائې برابر کړو او په هغې کې به ئې مونځونه کول او تلاوت به ئې په زوره آواز سره کولو، نو د ابو بکر ﷺ آواز او د قرآن کریم تلاوت کول نو دا ډیر زیات متأثره کونکې حالات وو نو زنانه او ماشومان ټول راجمع دی او قرآن کریم ته ئې غوږ ایخودې دے او ابو بکر قرآن تلاوت کوی او ژاړی ورسره ، نو د مکې مشرکان په ابن دغنه پسې راغلل چه تاته مونږ وئیلی وو چه دا ابو بکر به په کور کې عبادت کوی هغه خو بیا د کور نه بهر راوتلې دے او په زوره خپل عبادت کوی ، نو ابن دغنه په ابو بکر صدیق پسې راغلې او ورته ئې اووئیل : چه تاسره خو ما دا شرط ایخودې وو چه تهٔ به په کور کې عبادت کوے او تا خو پدې شرط باندې عمل اونهٔ کړو نو ابو بکر صدیق ﷺ ورته اووئیل : چه تهٔ دې خپله پناه واپس درواخله .

نو دوی وائی : چه ابو بکر ددې کافر سره پناه اخستې ده او دغه پناه په جاهلی نظام کې اختسل صحیح دی ؟

نو مونږه ورته وایو : چه صحیح ده پناه ئې اخستې وه خو جزئیت ئې خو ندې حاصل کړے، دلته جزئیت کوم شي کې دے ، بله دا که بالفرض زهٔ دا جزئیت ئې هم اومنم ، نعوذ با الله من ذلک ، نو بیا ته اوګوره چه د ابو بکر پشان حالت یا د پیغمبر علیه السلام پشان حالت لکه په طائف کې ، دا په تا باندې هم دے او کنه ؟ نو دغه شان حالات خو په تاسو باندې ندی راغلی تاسو خو هر څهٔ ښهٔ په کولاؤ طریقې سره کولې شئ ، ښه په خپل کورونو کې اوسیږئ ښه په مزو او چرچو باندې مو سر هم دے مزو دپاره خو دې پارلمان ته تلې ئې ، او ابوبکر ﷺ خو مفتون وو د هر طرف نه په هغې باندې بندیز وو پابندیانې ئې پرې لګولې وے نو هغهٔ خو د مجبورئ د وجې نه پناه اخستې وه ، او ته د ځان تشبیه ورکوے چه ماته خو هم دا حالات دی دا حالات په تاسو کله نه راغلی دی ؟ او بیا مونږه وایو : آیا ابو بکر څه تنزل

کړیدے ، او یا پیغمبر علیه السلام چه د مطعم بن عدی سره ئې پناه اغستې وه نو چرته ئې ورته دا وئیلي دي چه یره ستاسو دا دین خو هم ښهٔ دے ؟ یا خیر دے زهٔ به لګ رانرم شم ؟ نو دا کار ئې هم ندے کړے ، او بیا ابو بکر صدیق د ابن دغنه په پناه کې دے او په دریمه یا څلورمه ورځ باندې بیا خپل عمل لره دوام ورکړیدے او د حق دعوت ئې خورولو ، نو دا عجیبه خبره ده چه تهٔ ماته په نظام جاهلیت باندې د جزئیت نه پدغه واقعه باندې دلیل پیش کوے نو دا خو ډیر عجیب دلیل دے ،

بل اعتراض دوی کوی : د حلف الفضول والا واقعه پیش کوی ، نو دا واقعه اصل کې داسې ده : چه پیغمبر علیه السلام فرمائی : چه زهٔ د عبدالله بن جدعان په کور کې یو حلف ته حاضر شوے ووم او ماته د هغې نه زیاته خوښه ده چه ماته د هغې په بدل کې سره اوښان راکړے شي نو دغه معاهده ماته ډیره زیاته خوښه وه ، او که بیا زهٔ دغه شان معاهدې ته راطلب کړے شوم نو زهٔ به خامخا دغه معاهدې ته حاضر شم ، او دا معاهده داسې شوے وه : چه یو زبیدی قبیلې والا سړے وو او دا راغلې په مکه کې ئې سامان خرڅ کړو په عاص ابن وائل باندې ، او عاص ابن وائل ترینه سامان واغستلو او بیا ئې ورلره پیسې نهٔ ورکولې ، نو زبیدی قبیلې والا سړی کله یو ته فریاد اوکړو کله بل ته خو چا پرې هم څهٔ پرواه اونهٔ کړه نو لاړو او عاص ورسره هغه روپۍ نهٔ منلې ، نو پدیکې زبیر بن عبدالمطلب راپاڅیدو او جبل ابی قبیس ته اوختلو ، او د بره نه ئې آواز اوکړو چه اے بنی فلان ! اے بنی فلان ! نو ټولو قومونو ته ئې آوازونه اوکړل او ټول راجمع شول چه څهٔ خبره ده ، نو دې عبدالله بن جدعان کورته ئې بو تلل او زبیر ورته روټۍ تیاره کړه او پدې خبره باندې ئې معاهده اوکړه چه زمونږ پدې مکه کې دا ظلم شروع شوے دے نو د نصرة المظلوم باندې دوی معاهده اوکړه ، چه کله هم ظالم راپاڅیږی او په مظلوم باندې ظلم کوی نو مونږه به د مظلوم امداد کوو نو دیته ئې نوم کیخودو حلف الفضول ، نو دوی لاړل او عاص ابن وائل ته ئې اووئیل : چه دې زبیدی قبیلې والا سړی ته دا سامان یا پیسې حواله کړه ، نو هغه ئې پرې حواله کړو ، نو دې حلف ته پیغمبر علیه السلام هم حاضر شوے وو او پدې حلف کې د مکې ټول مشران او صنادید قریش

موجود وو ، او په حديث کې هم دغه شان راځي : « حضرت فی بيت عبدالله بن جدعان حلفاً قبل ان يكرمنى الله بنبوة ما اودو ان يكون لی بها حمرا نعم اجتمعت بطون قريش وتحالفوا علی نصرة المظلوم بمكة ولو دعيت بمثله لاجبت » نو دوی ددې نه دليل نيس او وائی: چه دا اوګوره پيغمبر عليه السلام هم دې حلف الفضول ته حاضر شويدے ؟

جواب: اول خو پدې خبره کې اختلاف دے او بعضی حضرات دا وائی : چه دا قسمه قسمونه اسلام منسوخ کړيدی ، او هر چه دا واقعه شويده نو دا خو د اسلام نه مخکې واقعه شوے وه، او پديکې دا خبره چه «**ولو دعيت بمثله لاجبت**» نو ددينه مراد دا دے چه دغه قسمونه د مسلمانانو ترمينځ هم وی ځکه چه په بل روايت کې داسې راځي : «**لا حلف فی الاسلام**» په اسلام کې د کفارو سره حلف نشته دے '' او بعض حضرات وائی : چه دا قسم باقی دے کولې شی ، مونږ وايو صحيح ته کولې ئی شی نو بيا ستا څۀ مطلب دے چه آيا پيغمبر عليه السلام د دوی سره حاضر شو نو آيا دوی به په نظام جاهلی باندې معاهده کړی وی ؟ آيا پيغمبر عليه السلام د دوی سره په لات او منات باندې قسم کړے وی ؟ او تاسو چه په پارلمان کې حلف کوئ نو د غير الله په قانون باندې حلف کوئ ، نو آيا پيغمبر عليه السلام ورسره د غير الله په قانون باندې حلف کولو ؟ يا پيغمبر عليه السلام په خپل دعوت کې دوی ته څۀ تنازل کړی وی ؟ نو که چرته تنازل ئی کړی وی نو مونږه ته ئی بيان کړئ ، او که چرته نۀ ئی وی کړے نو بيا صحيح خبره زمونږه ده ، نو بيا تاسو څنګه وائی چه نظام د انتخاباتو دا په هغې باندې بناء دے ؟ او ستاسو پدې انتخاباتو کې څومره مفاسد دی ، څومره تنازلات دی دا غټ تنازل ندے چه ته چاته دا نه شی وئيلې چه زۀ په انتخاباتو کې د اسلام دپاره دعوت چلوم نو ته ولې د کفر دپاره دعوت چلوے ؟ او ته د هغې په خلاف راپاڅې او هغه ددې نه بند کړے، آيا دا تۀ په جمهوريت کې کولې شی ؟ نۀ ته به خپل دعوت چلوے او هغه به خپل دعوت چلوی ، نو دا ډير لوئ تنازل دے او دا تنازل پيغمبر عليه السلام ندے کړے ، آيا پيغمبر عليه السلام به د هغوی جنډه پورته کړی وی ، نو کلا وحاشا پيغمبر عليه السلام دا کار ندے کړے،

نو دوی دا جزئيت پيش کوی ، چه نبي کريم ﷺ د جاهلي نظام نه جزئيت حاصل کړے وو نعوذ بالله .

۱۱/ شبهه ؛ دوی دا شبهه پيش کوی چه انتخابات دا خو يوه مسئله اجتهادی ده ، او يوه قاعده ده «**ولا انکار علی مجتهد**» چه په مجتهد فيه مسئله کې ته په چا باندې رد نشی کولے چه ستا دا مسئله غلطه ده ، ځکه چه هغه خپل اجتهاد کړے وی نو هغه د هغهٔ اجتهادی مسئله ده ، نو دوی وائی : چه دا خو اجتهادی مسئله ده او صحيح ده چه ستاسو نده خوښه نو زمونږه خو خوښه ده نو تاسو په مونږه رد نشی کولے .

جواب : چه ستاسو دا مسئله اجتهادی ددې خبرے نه ستاسو څهٔ مطلب دے ؟ آيا دا مسئله په زمانه د خير القرون کې نهٔ وه موجوده ؟ لکه صحابه کرامو يا پيغمبر عليه السلام دا کار ندے کړے ؟ دا مو مراد دے ، نو دا خو ستاسو په خپل کلام کې تناقض دے ځکه مخکې تاسو اووئيل : چه په صدر د اسلام کې انتخابات موجود وو او اوس وائی : چه مسئله اجتهادی ده ، دا کومو خلقو چه خپل فکر او نظر نوی کنه هغه دغه شان اوړی را اوړی اول ئې څه وئيل او وس څه وائی .

بله خبره دا ده : چه مونږه دا اومنو چه صحيح ده چه دا خبره په زمانه د وحی کې نهٔ وه موجوده نو بيا خو ددې دا مطلب ندے چه دا به اجتهاد ته متروکه وی چه صرف اجتهاد به پکې کيږی په هغه خبره کې چه هغه په زمانه د وحی کې نهٔ وی موجوده ، بلکه ډيرے مسئلې داسې دی چه هغه به د پيغمبر عليه السلام په زمانه کې نهٔ وی موجودې او اوس به موجودې شی نو د هغې دپاره به کليات په قرآن او حديث کې موجود وی نو د هغه اصولو د لاندې به دغه خبره راځی دغه بيا هم اجتهاد ته نهٔ پاتې کيږی ، او که په قرآن او حديث کې موجوده نشی نو بيا خو اجماع پدې خبره باندې شته دے ، او که چرته تاسو دا معنی کوئ چه دا اجتهادی مسئله ورته مونږه وايو نو د جديد په معنې سره ئې نهٔ وايو چه د وحي په زمانه کې نهٔ وه بلکه مونږه وايو چه پديکې نص ندے راغلې ، نو مونږه وايو : چه خا نص پکې

ندے راغلې نو آیا دا به صرف اجتهاد ته پرته وی ؟ په هغه زمانه کې دې صریح نص نوی راغلې خو د قواعدو کلیاتو د لاندې خو به وی کنه ، لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ۝٤٤ ﴾[1]

دارنګه دا مسئله خو د ډیرو آیتونو په ذیل کې دا خلیږی ، او که چرته دا ووائی : چه دا مسئله اجتهادی ده او مونږه ددې د حرمت ادراک کوو ، او مونږه ددې مصالح وینو او تاسو ئې مفاسد وینئ نو ددې مصالحو د وجې نه مونږه دا جائز کوو نو لهذا تاسو په خپله لاره باندې روان شئ او مونږه به خپله لاره باندې روان شو ، او دیته تحقیق المناط وائی ، چه ده ځان نه په مصلحتونو باندې یوه مسئله روانه کړې .

نو مونږه ورته په **جواب** کې وایو : چه اول خو دا خبره مونږه نۀ منو چه تاسو ئې مصالح وینئ او مونږه ئې مفاسد وینو نو دا مسئله داسې طریقې سره نده چه دا دې داسې اجتهادی ورګرځی چه تاسو ئې ځان ته د حلت کوی او مونږه به ئې حرمت کوو ، او که بالفرض دا خبره اومنو نو مونږه خو درته ددې تقریبا ۳۲ مفاسد ذکر کړل خو که تاسو پدیکې مصالح وینئ نو دا مصالح بیا په چا سره حاصلیږی ؟ نو دا خو په تجربې سره حاصلیږی په ۵۰ ، یا ۶۰ کاله کې تاسو دا تجربه ونۀ کړه چه پدې جمهوری نظام سره اسلامی نظام نشی راتلې ، او پدې باندې مصلحتونه نۀ صحیح کیږی او حدیث کې خو راځی : « لا یلدغ المؤمن من جحر واحد مرتین » او تاسو خو ۵۰ یا ۶۰ سال پدیکې تیر کړل او اوس هم وائی چه پدیکې مصلحتونه شته دے نو دا کوم مصلحت دے ؟ که ستا د خیټې مصلحت وی نو هغه خو بیا ځانته

---

[1] [سورة المائدة : ٤٤] .

مصلحت دے ، او که تۀ وائې چه د اسلام دپاره پکښې مصلحت لټوم ، یا خو مصلحت د الله جل جلاله په باره کښې وی نو د الله په شان کښې خو خلقو ګستاخۍ اوکړے ، دغه شان د نبی په شان کښې ګستاخۍ اوشوے نو دغه مصلحت دې هم ختم شو ، د مدارسو او مساجدو په شان کښې مصلحتونه نو هغه خو هم وران شول ، د قرآن په شان کښې مصلحت نو هغه خو هم ختم شو نو بیا ددې نه پس کوم یو مصلحت پاتې دے ؟ چه بس دا دې ژوندې پاتی وي .

بل دوی دا وائی : چه انتخابات دا یو مصلحت دے د مصالحو مرسلؤ نه ؟

جواب : د مصالح مرسله په باره کښې مخکښې مونږه تفصیل سره خبره ذکر کړے وه ، او بله خبره خو دا ده : چه دا مصلحت خو اصل د اصولو د دین نه ندے ، که استحسان یا استصحاب علماء ذکر کوی نو هغه خو د دلیل په تائید کښې ذکر کوی دا نۀ چه هغه بذات خود دلیل دے ، نو دا د اصولو د دین نه ځانته مستقل ندی ، د اصولینو په نیزد باندې چه کله شرائط برابر شی نو بیا هله پدې باندې عمل کوی ، او بل دا چه مصلحت مرسله خو هغه دے چه : «**ما لم يأت نص فيه بعينه بتحريم ولا وجوب مع اندراجها تحت اصل عام**» نو دیته اوګورئ : چه اول به د قرآن او حدیث د یوے غټې قاعدې د لاندې داخل وی او دویمه خبره دا ده : چه نص به پکښې خلاف نوی راغلی ، نو دلته خو درته مونږه بلا نصونه پیش کړل چه دا نظام غلط نظام دے او بیا د هغې نه پس بیا دلته مرسله څنګه وائی ، دا صحیح ده چه جلب المصالح او دفع المفاسد مسئله شته دے خو ددې مطلب دا ندے چه بس کوم مصلحت ستا په عقل باندې برابر راشی نو بس هغه به اخلې او کوم مصلحت اګر که د نص سره مخالف وی نو بس هغه به اخلی او اګر که دا خبره د اصلې کلیې د لاندې داخل نوی نو ته به هغه خبره اخلې دا خبره نشته دے.

دریمه خبره دا ده : چه دوی وائی چه انتخابات خو هسې یو شکل دے څۀ داسې جوهری څیز خو ندے چه پدې باندې حکم اولګیږی ، خو بس یوه طریقه او لاره ده پدې کښې خو څۀ خبره نشته دے .

جواب : دا خبره خو ستاسو بيخي غلطه ده چه يره دا خو هسې شكل دے څه جوهر خو ندې او بس يوه طريقه ده ، نهٔ دا خبره غلطه ده ، شكليه خو هغه وی چه هغه يو شكل وی نو پديكې خو تاسو مالونه خرچ كوئ ، كوم سرے چه ستاسو په مقابله كې راشی نو هغه ذاتی دوشمن ګنړئ ، او بيا پكې محبت او بغض د يو بل سره كوئ ، او دا تاسو په خپل ګمان كې تقرب الی الله ګنړئ ، او په يو بل باندې فتوئ لګوئ .

او بله دا چه : تاسو خو دې طرف ته دعوت هم وركوئ او ديته خو تاسو سفينة النجات (د نجات كشتئ) او سفينة النوح وائی ، چه نور خلق په نورو لارو باندې اسلام راولی نو تاسو ورته وائی : چه دا طريقه د اسلام د راوستلو نده دا غلطه طريقه ده ، نو نورو ته بيا ولې غلطه طريقه وائی ؟ شكليه خو داسې وی چه د هغې سره هر شی جمع كيدلې شی بيا خو پكار دا وه چه تاسو مختلف څيزونه جمع كولے ، نو دا خو جوهری حيثيت ورته حاصل دے ، او تاسو خو دا هم وائي : چه د اسلام او د توحيد د راوستلو واحده ذريعه هغه انتخابات دی ، نو دا خبرے چه دوی كوی نو دا د ځان نه دفاع كوی لكه الله فرمائي : ﴿ ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾[1] لكه څرنګه چه منافقينو د قسم نه يو ډال جوړ كړے وو او ځان دپاره ئی دفاع پرې كوله نو دوی هم هغه شان طريقې شروع كړی دی ، او اسلام د هسې شكليو نه منع كړيده لكه الله فرمائی : ﴿ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ ﴾[2] لكه چه منافقانو به مونځ كولو نو هسې يو شكل د مانځه به ئی جوړ كړو او زړهٔ خو به ئی بل خوا وو نو ځكه پرې الله رد اوكړو ، او دا كارونه خو به منافقينو كول او د هغې په باره كې بيا الله فرمائی : ﴿ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمۡ نَصِيرًا ١٤٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ

---

1) [سورة المنافقون : ٢] .

2) [سورة النساء : ١٤٢] .

وَأَصۡلَحُواْ وَٱعۡتَصَمُواْ بِٱللَّهِ وَأَخۡلَصُواْ دِينَهُمۡ لِلَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَسَوۡفَ يُؤۡتِ ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿١٤٦﴾ ﴾[1] (شکیله به نه جوړوئ په دین کې خالص دین به الله ته پیش کوي) خو بس د دوی سره خو د اصطلاحاتو بوجئ پرتې وی چه کله یوه اصطلاح پیش کړی او خلق ورلره هغه کفری ثابته کړی نو بله اصطلاح ورته پیش کړی.

۱۲/ شبهه : بله شبهه دوی دا بیش کوی چه مونږه په انتخاباتو کې داخل شوی یو خو وماقصدنا الا الخیر مونږه خو پدې لاره باندې اسلام نافذ کوو، که اسلام نوی نو نصرب خو به ئې وکړو کنه، نو د مدارسو تحفظ ورته کوو څۀ نا څۀ خو به اوکړو کنه، او بیا وائی : چه دا عمل خو مونږه د الله د رضا دپاره کوو نو الله به پرې مونږه ته جزا خیر راکوی، او دلیل پیش کوی چه : « انما الاعمال بالنیات » زمونږه نیت پکې صحیح دے، که تاسو هر څۀ وائی چه انتخابات کفر دے او که هر څه وی خو زمونږه نیت پکې صحیح دے ځکه مونږه پرې اسلام راولو.

جواب : مونږ وایو چه دا درته چا وئیلې دي چه انما الأعمال بالنیات باندې به خلاص شی چه بس نیت مې ښه دے، ترڅو پورے چه طریقه د عمل دې برابره نوی نو صرف په نیت باندې کار نۀ کیږی، او ددې خو ډیر مثالونه دی، لکه سنیما جوړه کړه او دا نیت پکې اوکړه چه زۀ پرې حج کوم، نو نیت خو دې صحیح دې خو طریقه د عمل دې غلطه ده، بلکه د عمل کیفیت لره هم اعتبار دے ددې وجې نه شاه ولي الله رحمه الله فرمائی : فرض النوامیس » کې الله پاک په مونږه د اعمالو دا شکلونه فرض کړی دي، کله کله خیر دے چه زړۀ دې بل طرف ته لاړ شی خو دا شکل درباندې فرض دے، دې شکیلې نه هغه د منافقانو شکیله نه ده مراد، دا خو صحیح ده اسلام شکل دے چه ته به راپاسیږې اول به اودس کوی او بیا مونځ کوی په هغه طریقه کوم چه په احادیثو کې ذکر دے، او داسی نۀ چه بس ته ووائی چه ما

---

[1] [سورة النساء : ١٤٥ ـ ١٤٦].

نيت کړے دے بس مونځ اوشو ، لکه حضرت عمر رضي الله عنه باره کې راځی : چه یوه ورځ ئې مونځ اوکړو نو خلقو ورته اووئيل : چه تاسو خو قرأت ونهٔ ويلو ، نو هغه ورته اووئيل : چه خه راځئ چه دوباره مونځ اوکړو ، زما توجه هغه لښکر طرف ته لاړه چه ما يو لښکر روان کړے وو او د هغې په باره کې زما سوچ وو نو د هغې د وجې نه زمانه قرأت پاتې شويدے ، نو دا انتهائی لازمی دی او دوی د شکل نه انکار کوی نو اسلام چه په تا باندې کوم شکلونه فرض کړيدی نو هغه به تهٔ موجوده وے دا نده چه بس تهٔ په هره لاره باندې راتاؤ شی نو صحيح ده ، لکه بعضی خلق يو بدعت په ښهٔ نيت باندې کوی لکه بعضی مولیان شو چه دا گډيړی نو د دوی مقصد پديکې دا دے : چه پدې کار باندې زمونږه نه الله پاک راضی شی ، لکن پيغمبر عليه السلام خو فرمائی : «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌّ» [1] دارنگه : « مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ» نو دا خبره کول چه زمونږه نيت برابر دے عمل که هر څنگه وی نو دا خبره غلطه ده ، بس بيا خو اسلام صرف د فکر نوم شو هر سړے به زړه کې وائی چه ما دا کار وکړو او دا کار مې وکړو ، بلکه د زړهٔ اثر به دې په بدن باندې ظاهروے لکه حديث کې راځي : « أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ » [2] .

بله خبره دوی دا کوی : چه مونږه پدې لاره باندې اسلام راولو چه په ملک کې اسلام نافذ شی ؟

جواب : مونږه وايو : چه دا کار ناممکن دے پدې لاره باندې شريعت راوستل دا غلطه خبره ده ځکه چه جمهوريت يو خپل فکر او سوچ لری او هغه سوچ دا دے : چه په کوم ملک کې کوم نظام رامنځ ته کيږی نو هغه به د اکثريت نه راپيش کيږی عوام د قانون سرچشمه ده هغوی به ئی راوړاندې کوی او اکثريت به پرې حاصليږي يعنی اکثريت پديکې آزاد دے چه

---

1) [صحيح البخاري ، رقم : ٢٤٩٩] .

2) [صحيح البخاري ، رقم : ٥٠] .

کوم نظام هم رامخکې کړی نو صحیح دے ، نو چه اسلام راځی نو هغه به هم د اکثریت په خوښه راځی نهٔ ددې وجې نه چه دا د الله قانون دے ، ددې خبرے مطلب داشو چه اوس د اکثریت خوښه ده چه څه کوی ، نو جمهوریت خو عوامو ته اختیار ورکړو او د اختیار او آزادئ مطلب دا دے : که چرته ته ددې حق لرې ! چه خلق اسلام ته رادعوت کړے پدې لاره ، او هغه بل سړے ددې خبرے حق لری چه هغه خلق کفر ته رادعوت کړی او تهٔ هغه سړے ددې خبرے نه نشې منع کولے ، نو دا کوم اسلام دے چه یو طرف ته تهٔ سړے رادعوت کوے چه اسلام ته راشه او بل طرف ته دعوت چلیږی چه کفر ته راشئ او تهٔ په دغه سړی باندې پابندی نشې لګولې نو پدې لاره باندې اسلام چرته هم نشی راتلې .

دویمه خبره دا ده : که بالفرض مونږه دا اومنو چه تا پدې جمهوریت باندې اسلام نافذ کړو خو په جمهوریت کې قانون دا دے : چه کوم یو سړی ته په اکثریت باندې حکومت میلاؤ شی نو دا حکومت به د محدودې مودې دپاره وی لکه په اکثرو ملکونو کې موده پنځه کاله ده نو د پنځو کالو دپاره به تهٔ حکمران یئ ، او د پنځو کالو نه بعد به تهٔ د حکومت نه معزوله کیږے او تا اسلام نافذ کړے وو ، نو زه صحیح شوه ګڼې اول خو مونږه وایو چه دغه لاره غلطه ده خو زه تا نظام نافذ کړو او خلقو اومنله چه امیر المؤمنین شوی نو پنځه کاله بعد چه په خپله معزوله کیږی بغیر د څه خبرې نه ، نو دا خبره خو د اجماع نه خلافه ده نو دا بیا د اسلام نه خلاف کار شو ځکه اجماع پدې خبره باندې ده چه کوم امیر المؤمنین مقرر کړے شو نو هغه امیر به تر هغه پورے امیر وی چه ترڅو پورے ژوندې وی «**الا ان تروا کفرا بواحاً**» مګر که ښکاره کفر پکې راشی نو بیا د لرې کولو اجازت تاته شته دے ، او چه کافر شوے نوی او لرې کولې شی نو دا خو د اجماع او اسلام نه خلاف کار دے ، ورسره دا خبره هم ده چه تا خو اسلامی نظام نافذ کړے وو او ستا نه روسته بل سړے راشی او هغه اسلام نهٔ نافذ کوی نو اسلام دې محدود او منحصر کړو ، او مونږه وایو : چه اسلام دې عالمی دین اوګرځی ، دا نه چه پنځه کاله اسلام او پنځه کاله کفر څه او بیا به دې خلقو څه حکم وی

چه کله اسلام ته راځی او کله کفر کې داخلیږی نو دا خبره غلطه ده . فتدبر ! !

دریمه خبره دا ده : چه جمهوریت ته د علماؤ او د دینداره خلقو داخلیدل د اسلام په نیت دا غلطه خبره ده ، د جمهوریت په لاره خو اسلام نشی راتلې دا خبره اوشوه ، ځکه چه پدیکې هر کار د اکثریت تابع او ته اسلام د اکثریت د وجه راولې نو دا اسلام اسلام ندې ځکه مونږه وایو چه اسلام به ددې وجه نه راولو چه دا د الله تعالیٰ دین او قانون دے ، او ته بیا هم پدې جمهوریت کې حصه اخلې دا نقصان دے ، نو ددې وجې نه به د خلقو پدې جمهوریت باندې اعتماد پیدا کیږی ، ځکه خلق به وائی : که جمهوریت باطل څیز وے نو دې علماؤ پکې بیا ولې حصه اخستله ، نو ته ئې د اسلام دپاره استعمالوے او که صبا له بل سړے راشی نو هغه به بیا هم دا جمهوریت د کفر دپاره استعمالوی او په دلیل کې به دا پیش کوی چه فلانې مولانا صاحب چه په جمهوریت کې حصه اخستې وه ، لکه نن صبا خلق دا خبره مونږ ته کوي

څلورمه خبره دا ده : چه په انتخاباتو سره اسلام نشی راتلې بلکه په انتخاباتو سره به جمهوریت او د غیر الله قانون راځي ځکه جمهوریت یو خپل فکر او سوچ لری او هغه فکر سیکولر فکر دے تر هغې پورے تهٔ پدې جمهوریت اسلام نشی نافذ کولے ترڅو پورے چه تا د خپل ځان نه دین نوی ایستلې ، لکه مساوات دے نو ته به هله جمهوریت ته ورداخلیږے چه ته ښځه او سړے یو برابر اوګنړې ، ته به کافر او مسلمان یو برابر کوے ، ته به عالم او جاهل یو برابر کوے نو تهٔ به د ځان نه دینی تفاضل لرے کوے ، او چه دغه تفاضل تا د ځان نه لرې کړو نو آیا دا اسلام بیا اسلام پاتې شو ؟

پنځمه خبره دا ده : د هر یو څیز لاره خپل طرف ته تلې وی ، جمهوریت یو سیکولر نظام دے نو دا به سیکولریزم ته ځی او دا چه کوم نظام نافذ کوی نو هغه به سیکولریزم وی او سیکولریزم د هیچ چا سره نهٔ جمع کیږی ځکه هغه ځان سره په سیاست کې یو دین هم نه جمع کوي نهٔ د یهودیت سره جمع کیږی ، نهٔ د نصرانیت سره جمع کیږی ، او نهٔ د اسلام سره جمع کیږی ځکه هغه وائی چه د دین په سیاست او حکومت کې څهٔ کار نشته دے ، نو د جمهوریت

لار سيکولريزم ته تلې ده او پدې لاره باندې اسلام نشی نافذ کیدلې .

بله خبره دا ده : چه جمهوريت کيپټيلزم غواړی او جمهوريت د کيپټيلزم يوه نقشه ده ، نو تهٔ چه کله ديته ورداخل شوے نو تهٔ بغير د کيپټيلزم نه پاتې کيدې نشی پدې نظام کې ځکه تهٔ به صبا بيا ووېښونه په څهٔ باندې ګټې نو سرمايه دارانه نظام به تهٔ خامخا منې ، او چه کله دې سرمايه دارانه نظام اومنلو نو بيا سود او رشوت هر څهٔ ته به غاړه ايږدې .

بله خبره دا ده : چه اکثريت تهٔ حاصلولې نشی چرته هم داسې نشی کيدلې چه تا اکثريت حاصل کړو ځکه چه د اکثريت دپاره د ډيرو دروغو ضرورت دے ، او د اکثريت دپاره د ډيرو پيسو ضرورت دے چه خلقو ته رشوتونه ورکړے چه خلق بيا تاله ووېښونه درکړی ، دغه ناجائز کارونه به اول کوے ، نو بيا پدې طريقې سره اسلام تهٔ نشی راوستلې .

بله وجه ئی دا ده : چه تهٔ پدې طريقې سره اسلام نشی نافذ کولې وجه دا ده چه مونږه وايو: چه کله ته جمهوريت کې وردننه شوے نو بيا به تهٔ د اساسی قانون لحاظ ساتې او اساسی قانون جمهوريت دے نو بيا دې هم دين د خواهش تابع کړو ځکه اساسی قانون د خواهش په تابع جوړ شوے دے او دا هم نارواه کار دے ، او که تهٔ وائی چه زهٔ به نظام راولم او اساسی قانون دې ختم شی نو بيا به ستا حکومت هم ختميږی ځکه چه ته ددې اساسی قانون په بنياد باندې دې حکومت ته رارسيدلې يئ دې جمهوريت تا ته اجازه درکړے وه چه ته ودريږه .

بله خبره دا ده : چه ته په جمهوريت کې راغلې نو ته صحيح اسلام نشی نافذ کولې ، ځکه د اسلام د ټولو نه غټه شعبه امر بالمعروف او نهی عن المنکر ده او دا تهٔ نشی کولې ځکه چه جمهوريت آزادی غواړی ، او ته بيا دا کولے شی چه په ملک کې کومه يوه سيکولر پارټی وی هغه ته ختمه کړے کولې شی ؟ نشی کولې ، نو دا بيا کوم اسلام دے چه نهٔ پکې امر بالمعروف شته او نهٔ پکې نهی عن المنکر شته دے . نو دغه ددوی يو څو غلطې شبهې وے او دهغې جوابونه ذکر شول .